او ثقافت په پخو تهداؤنو دریدلی دی . خو دومره وینا
په کار ده چه دهغه ځای پښتنی ادب دتاریخ اوفلالو جی
له تحقیقاتو څخه پوره بهره مند شوی نه دی . مګر یقین
دی چه دغه حساس پښتانه به ډیر ژر خپل نقائص پوره
کړی ، او خپل هدف ته به ورسیږی !!!

✲✲✲✲

# دیموکراسي څه‌شی دی؟

ددیمو کراسۍ په باب ډیری خبری شویدی او ډیر کتابونه وربانده لیکل شویدی . ددیموکراسۍ پیژندل دنن عصر دهر انسان دپاره یوخورا ضروری شی دی . دا ځکه چه‌دنن عصر ټول خصوصیات او امتیازات چه دی ټول ددیموکراسۍ مرهون دی . ترکومه وخته چه ددیموکراسی رڼا په‌دنیا نه‌وه ځلیدلی ، دنیاپه ډیر ظلمت کښی پرته او په‌اوږ‌هامو اخته وه .

دیمو کراسی څه‌شی دی؟دایومضمون دی اودیموکراسی کله اوڅنګه پیداشوه ؟ دابل لیکچردی . ددیموکراسی په پید ایش او پالنه کښې کومو کومو قومونو ،ادیانو او مذاهبو څه رول لوبه بازی کړه ؟ او اوس دیمو کراسی کوم حدته رسیدلی ده؟او په څوډوله ده ؟ اودیمو کراسی داقوامو دتهذیب او ثقافت په لحاظ په هر مملکت کښې څه څه فرقونه لری ؟ دابیل بیل عناوین او بیل بیل بحثونه دی . اوس دلته موږ فقط دا موضوع تر بحث لاندی نیسو چه دیمو کراسی څه‌شی دی . نور ا بحاث بل فرصت ته حواله کوو .

په‌مختصر اولنډ عبارت : دیمو کراسی دیو نظام نوم دی ددیمو کراسی نظام په آزادۍ ، قانون، اواخلاقوولاړ

دی . له آزادۍ څخه مراد بیباکي نه ده . له قانون څخه مراد هغه قانون دی چه دملت په خوښه او اکثریت پاس شوی وی . له اخلاقو څخه مراد دادی چه هرفرد به د بل دحقوقو داسي مراعات کوی لکه دځان . نو هر کله چه داقوامو او مللو قوانین او اخلاق یو تر بله فرق کوی نو ځکه دیمو کراسی هم دهرقوم په نزد ځانته شکل لری . له هغه آزادیو څخه چه ددیمو کراسی تعمیر ور باندی ولاړ دی ، خورا مهمی دادری آزادۍ دی: آزادی دبیان، آزادی دقلم او آزادی دعقیدی .

کوم وخت چه انسان ددیمو کراسۍ نظام ته نه ؤ خاضع شوی ، نو یو به دبل په لاس دزور په واسطه اداره کید و . انسان به انسان بیځایه واژه ، هلا کاوه ، بندی کاوه ، مال به ئی ور څخه اخست . غلام اومریی به ئی ترې جوړاوه . په رنګ رنګ عذابونو به ئی عذاباوه . هغه وخت زور بالای زور ؤ . دزورور به په کمزوری زړه نه خوږېدو . هیڅ کمزوری دزورور په مخکښي د هیڅ مطالبه نشوی کولای .

ددیمو کراسۍ په عصر کښي فقط چا ته ضرر مه رسوه . له قانون څخه مخالفت مه کوه . نور چه هر څه کوی څوک ستا په کار کښي دمداخلی حق نه لری . که چا در باندی بیځایه تعرض وکاوه ، اصولا قانونی مراجعو ته ورتلی او شکایت کولی شی !

ددیمو کراسۍ په عصر کښي دحکومتونو وظیفه داده

چه دملت مرام ، دملت متخذه سیاست ، اود ملت په لاس ایښودل شوی قوانین پرمخ بوځي ، اوعملي ئي کاندی. حکومتونه دملت دارزو ګانو تمثیل کوی . دیمو کراسي حکومت له ملت څخه بیل شي نه وی . فقط داهغه برجسته کسان وی چه دملت په خوښه باندی دلیاقت ، فعالیت او صداقت په لحاظ کاروته ور سپارل شوی وی . اوملت داشتباه په وخت کښي له حکومته څخه قانوني پوښتنه کولی شي . البته ملت دوراني ، قانون ماتولو ، اوبد اخلاقي حق نه لری .

که ددیمو کراسي نظام په شاهي او پارلماني صورت سره وی ، نوخلك دبادشاه د بي احترامي حق نه لری ځکه چه باد شاه دآزادی ، او دیمو کراسي دساتلو مرکز او مثل الاعلی دی . نور هرڅه اوړی را اوړی بی دبادشاه له شخص څخه چه دی دمرکزی ټکی په شان دسعادت او نیکبختي مرجع بلل کیږی .

خلاصه داچه دیمو کراسي هغه نظام دی چه د ده په سیوری کښي هرفرد دخپل استعداد په اندازه ، هرځای ته رسیدای شي . پرته له دی چه باد شاه شي . لنډه داچه دیمو کراسي انسانیت دی . او « آدمیت احترام آدمی است !»

طلوع افغان ۲۳ ددلوی ۱۳۲۹

✲✲✲✲

# اتفاق او اختلاف

اتفاق او اختلاف دوه کلمی دی، یوه د بلی ضد .
دا دواړه کلمی دمعنی په لحاظ ددوه شیانو په منځکښې
نسبتی حیث لری . او په دغه تصور سره ذهن ته راځی .
مثلا دوه نفره که دفکر یاعمل په میدان کښې سره یو یا نژدی وو،
خلك وایی اتفاق لری . او که سره مقابل او متضاد وو
نو وائی اختلاف لری . عموما خلك اتفاق ته خوشبین او
اختلاف ته بدبین دی . دوی وایی : « خدای په اتفاق
راضی کیږی . »

داخبره سمه ده چه په اتفاق کښې قوة او په اختلاف کښې
تشتت او کمزوری ده . په قرآن کریم کښې راغلی دی :
«تاسو نزاع مه سره کوئ چه تاسو به جداشئ او قوة به
مو کم شی .» : اختلاف نه خلك ځکه ډاریږی چه اکثره
په اختلاف کښې تصادم او مقابله پیښیږی . مګر سره
ددغو خبرو په حدیث کښې راغلی دی : «زما دامت اختلاف
رحمت دی .»

نو اوس داسی څرګندده شوه چه هر اتفاق دقوة او هر
اختلاف د بدبختۍ سبب نه دی . نودا به څنګه معلوم مه
کړو چه په اتفاق کښې به کوم ګول دی، او په اختلاف کښې به

کوم قسم‌دی ؟ داخبره نوی ده اوپه دې خبره با ندی تراوسه مونږ پوره غور نه‌دی کړی . ترکومه حده چه زما فکر رسائی کوی . هغه اتفاق چه دضمیر په‌اوازنه وی حاصل شوی ؛ اود وجدان او اجتهاد محا کمه پکښې دخل ونه‌لری . او کور کورانه حاصل شی ، دغه نوعه اتفاق دافرادو حیاتی او اجتهادی عضلات شل کوی . اودحرکت او تجسس منبع چه دحیات سرچینه بلل کیږی تری لکه‌چه وائی :

«اگر تقلید بودی شیوهٔ خوب ٭ پیمبر هم رهٔ اجداد رفتی»

دغسی هم هغه‌قسم اختلاف چه په هغه کښې مرادحقائق پلټل اوسم او کوږ معلوموول وی بد نه‌دی . بلکه یوضروری شی‌دی . دپیغمبرانو اوخورا لویو کسانو داراؤ سره خلکو اختلاف کړی‌دی ، اودغو لویانو همیشه‌چه حق اور پدلی‌دی تن‌ئی ورته ایښی اومنلی ئی‌دی . دادفطرت او قدرت قانون دی چه‌څو اختلاف منځ ته رانه شی حق پټ پاته کیږی . او « دافکارو له تصادم څخه تل دحقیقت برق جلوه کوی .»

دغه سبب دی‌چه‌داسلام پیغمبر ﷺ پری‌پېړی‌ءِ دمخه‌داختلاف او انتقاددرواره‌په‌خپل‌پور ته‌حدیث سره بېرته کړی‌ده . اوددی عصر پوهانو او علماؤ په‌مسلم صورت سره داخبره

تصدیق کړیده چه یواځی دیوه فرد یایو جماعت مفکوره او نظریه چه څو دانتقاد او اختلاف په محك و نه از ما ئل شی داعتماد وړنه ده ، پهدغه اساس باندی ځ لی منځ ته راغلی دی او دهٔلو دفعل او انفعال پهواسطه جوامعو ترقی کړیده . اوس که څوك دمطلق اتفاق په تمه وی ، نو سره ددی چه دطبائعو داختلاف اودتطور دقانو ن په و ا سطه ممکن نهدی . نو مفید هم نهدی . دار نګه هر اختلا ف قابل دهٔار نهدی . بلسکه دار تقاء دقانون پراساس اختلاف یوضروری شیدی . دا بیا بېله خبره ده چه هر سړی په هره خبره کښې داختلاف کولو حق نهلری . یوه،عالم او عاقل سړی نهښائی چه داتفاق دحصول دپاره پهپټو سترګو بیسنجشه او بی محا کمی پهخوله لاس کښېږدی اوخلك لهاستفادی محروم کاندی . هو، بی دلیله ،وچاو بیمنطقه اختلاف سخت مذموم شیدی . جائز اختلاف دا د ی چه دهری سمی لیاری او پروګرام پهمقا بل کښې د هغی نه بله لنډه او ښهسمه لیار وښودل شی . نهدا چه سړی مطلق ووائی : « نی منم !» البته دنزاع ، اختلاف استشاری او صلاح مشوری پهامنځکښی فرقو نه شتهدی . بایددغه حدود وساتل شی !

۲۷ددلوی ۱۳۲۹ طلوع افغان

# تشدد او سختي

انسان په يوازي سر او انفراديت ګذران نه شي کولای . دی په خپل ژوند کښې نورو ته اړ دی . څومره چه مدنيت توسعه پيدا کوي ، او د اجتماع دائره ارتېږي . هغومره دانسان ارتباط د نورو سره زياتېږي . د مدنيت په دې عصر کښې منفرد او منزوي انسان کامياب او مسعود نه بلل کېږي . کامياب او خوشحال انسان هغه دی چه د ده د دوستۍ او مرا و دې ګړ پراخ وي . يعنې د ډېر و انسانانو سره د ده د مينې او دوستانه تعلقات موجود وي . ډېر خلک په ده اعتماد او ويسا لري . او ډېر خلک ورته په ښه وا ګي ، او د ډېر و خلکو زړونه ور پورې تړلي وي .

او س نو د خلکو سره د تعلقاتو په باب دوه لياري موجود دي : ځينې کسان د ظلم ، زور او تشدد له مخې غواړي چه نور خلک وډاروي ، وئې ترهوي ، وار خطا ئې کړ ي او په دغه شان سره ئې د خپل نفوذ لاندې راولي . ځينې کسان هم د چل ، فريب ، درواغو ، او چم بازۍ له لياري غواړي چه خلک په ځان راغونډ کاندي . په دنيا کښې د دغو دواړو ليارو پيروان خورا ډېر دي . اهل حرب او سياست اکثره د غه دوه حربې استعمالوي چه په ادب

کښې اوله پوله زور ګويان اودو يمه چا لباز ان .سا ب شوىدى .

دادوا په لياري سمى نه‌دى . دا رښتياده چه دزوورو او به په‌لوپه خيژي . مګر داهم سهى ده چه دظلم کا سه نسکوره ده . او ـ چه بد ګرځى بدپرځى . زور دعلم او انسانيت ادب اوقانون ټول حدود ماتولى شى . مګر په لږه موده کښې دظالم اوسخت ګير په مقابل کښې دا سى يوعمومى تنفر اور دعمل پيدا کيږى چه‌دغه زور بيا په زور سره ماتيږ ى . ما تما ګا نلوى ويلى دى : «هغه شى چه په تشدد لاس ته‌راځى . هغه بيرته په زو ر اخستل کيږى .» دخدعى اوفريب په باب پښتانه وايى «ددر و غو مزى لنډوى .» ډير ملمع او مزحزف شيان په‌لږه مو د ه کښې بى‌پردې کيږى . نو بيا ددروغجن او فريب کـا ر په‌خوله باور نه‌کوى . زه‌دلته ديوملت‌اودولت په‌خارجى او بين‌المللى چارو کښې دنظرئى اظهار کول نه غو اړم ښائى چه‌داسى مواقع پيښ‌شى چه « فان اعتد ى عليکم فاعتدواعليهم بمثل ماعتدى‌عليکم » نه بغير بل‌ه‌چاره نه‌وى مګر په‌عمومى اووسيع نظرسره ويلى شم چه‌په تعمير ى اصلاحى او اساسى چا رو کښى تشدد سختى او ا جبا ر عموما ښه نتائج نه ښښى . بلکه بدى اغيزى لرى . کو م

کسان چه په کورونو کښې د ښځو او اولادونو سره تشدد او سختي کوي . له دغه کور د ځخه مینه او محبت کوچ کوي ، او په ځای ئې تریخوالی بدګذراني او دښمني دریږي . د ډیرو ځوانانو بد اخلاقۍ ، په کور کښې د مور و پلار بد ګذرانۍ ته راجع وي . کوم تعلیم او تربیت چه اساس یې په زور ، ظلم ، وهلو او تحقیر ایښو دل شوی وي ، له دغسې مؤسسو ځخه لوی خلک علماء اخلاقیون او سم کسان په مشکل سره لاس ته راځي . په کوم مملکت کښې چه زور ظلم ، تشدد او سختي د قانون او شریعت ځای ونیسي هلته د علم ، ادب ، اخلاقو خوشحالۍ او سعادت ډیوی مړی . بد بیني ، قساوت ، بی اعتمادي ، ځان ځاني جهل او بغض پیدا کیږي . هغه مصلحین او مسلکي کسان چه غواړي خلک له بدو لیارو ښو ته راواړوي . لازمه ده چه دوی د تشدد د ټولو انواعو ځخه ځان وژغوري . د بدو په ځواب کښې به بد نه وائي . د کنځا ځواب به په مثل نه ور کوي . د ظلم او تعدي په مقابل کښې به عفوه او ښښنه کوي . او لکه قرآن چه وایي . «د بدو تلافي به په نیکۍ کوي .» هوښیاران وائي : «د سختۍ نه سختي او د نرمۍ نه نرمي پیدا کیږي .» ښتانه وائي : «وینه په وینه نه مینځل کیږي .» هر څوک چه یو ملت ، وطن او مملکت ته خوشحالي

راوستل غواړی ، دوې به ټولی سختی سپو ری په خپل سراخلی . او ټول بد کارونه به په نرمۍ سموی .

زمونږ پیغمبر په ډیر واستثنائی وختونو کښی په توره تشبث کړیدی . ده ص ویلی دی : «اخرالحیل السیف .» توره د روستنۍ وسله ده . دا دغسی مثال لری چه د مریض علاج په بل شان ممکن نه وی . نو بیا گټر داپریشن اقدام کوی . مدعا داده چه د پیغمبرانو ، مصلحانو ، او نیکانو ټول کارونه چه له غرضه خالی دی او خالص په انسانی محبت بنادی ، تشدد ته په کښی ضرورت نه لید ل کیږی . که ظلم بدکار دی ، نو تشدد د ظالم طره ده . د بنو خلکو ، بیغرضو خدمتگارانو او د انسانیت د دوستانو وظیفه د محبت او خدمت دی . د هر چا د پاره که څه هم د سر د ښمن ئی وی!

(۲۷ د حوت ۱۳۲۹ کندهار طلوع افغان)

✡✡✡

# اجتماعی حقوق

په یوه ټولنه کښې متفاوت افراد او متعدد اشخاص موجود وی . نر ، ښځې ، واړه ، غټ ، مشران ، کشران ، مور و پلار ، اولاد ، قوی ، ضعیف ، آمر ، مامور ، حاکم محکوم اوداسې نور .

اجتماعی حقونه چه ادیانو ، فلسفی ، او اخلاقو تعیین کړیدی ، له دغو شخه مراد دادی چه انسانان خپل خپل حدود و پیژنی ، پرخپلو حدودو . ودریږی . او هر فرد هره یو لـه خپلـه وظیـفه دنـور و پـه نسبت اجـرا کاندی . نو انسانان به خوشحاله ، مسعود او نیکبخت شی او نزاع ګانی ، جنجالونه او تصادمات به لیری شی .

په کـلی صورت سره که سړی نظر وکاندی ، اجتماعی حقوق هغه شیان دی چه دجامعی دافرادو په منځکښې دیو بل دقرضونو په صورت تثبیت شوی دی ، او دهری یو لی داړتیا اوطبیعت سره سم د هغوحقوق مثل شوی دی .

مثلا : ښځه او میړه چه په یو کور کښې اوسی ، دوی مجبور دی چه یو تر بله ښه ګذران وکاندی . نار ینه چه نسبتا کلک پیدا شویدی . باید دباندی کاراوګټه وکړی . او ښځه حمل ، رضاعت داولاد پالنه ، د کور ساما نو ل چه ددی په غاړه ایښودل شوی دی باید دکور رئیسه و ګڼل شی .

نو ځکه خاوند د کور نه د باندې رئیس او مېرمن د کور
د دننه چارو رئیسه ده . کوم وخت چه سړی د کور په کارو
کښې مداخله کوی ، نو د ښځې احترام به ساتی . او که
ښځه له کوره وځی نو د ښځتن په صلا او مشوره به وی .
دواړه به یو تر بله مینه کوی . او یو د بل زړه به ساتی .
دهمدغه متقابل حقوقو په اساس په پښتو کښې مېړه ته
خاوند او ښځې ته مېرمن ویل شویده . معنی ئی داده چه
یو د بل خاوند نه دي . بلکه دواړه د خپل حق خاوندان
دی ، او مکلف په ښه ګذاران .
سړی چه له ښځې نه داغواړی چه دا دی د مېړه پت وساتی ،
او خپل ځان دې د حیا په پوړنی کښې ونغاړی . دغه
رنګه ښځه هم دا حق لری چه د مېړه نه د خپلو حقوقو
د مراعات انتظار وکړی .
مدعا داده چه اجتماعی حقوق هیڅکله یو طرفه نه دی .
دا د خلکو ناقص تصور دی چه دوی د خښتن ، مشر ، معلم ،
آمر ، حاکم ، او مورو پلار په حق قائلېږی . او د مېرمنی
کشر ، شاګرد ، مامور محکوم او اولاد د حق ته اعتنا
نه کوی . اجتماعی حقونه دوه جانبه دی . زمونږ لوی
استاذی چه وایی : «چاچه زمونږ پر کوچنی رحم ونه کړ ،
او چاچه زمونږ د مشر عزت ونه کړ . لکه زمونږ له ډلی څخه
نه دی .» یعنی مسلمان نه دی ، همدغه معنی لری .

وګوري؟ د کشر حق ئې په مشر باندې رحم ، مهرباني او مینه ونبودله . او کشر ته ئې وویل چـه د مشر عـزت او احترام وساتي . دلته مراد له رحم څخه یوا ځې الساني اوډژبې دسر رحم نه دی . بلـکه مراد دادی چه مشر د ی د کشر د تربیت ، وړاندې تـګ او انـکشاف لیاری ور ته سمې کړی . چه سړیتوب او تـکامل ته ورسیږ ی . ځکه چه دمشر تجربه اوپوهه زیاته ده . نوله دغه لیاری څخه دې د کشر سره کومك اومرسته وکړی ، او کشر د ی مشر ته داحترام سرټیټ کاندی . خبره دې ئې ومنی ، او غا ړه دې ور ته کښیږدی چه څو نظام قائم شي اوله مشر څخه پوره ګـټه اوفائده واخلي . دغه رنـګه اولاد اومو رو پلا ر همدی . مورو پلار په اولاد ، او اولاد په مورو پلار حق لری . له نـکاح څخه مراد یوا ځې دجنسي میل تقا ضا نه ده . بلـکه صالح اولاد پیدا کول همدی . او دصالح اولاد روزنه اولویونه دمورو پلار وظیفه ده . له دغه حدیث څخه مراد چه ویلې ئې دی« مورو پلار له او لا د څخه یهو دی ، نصراني او مجوسي جوړوی . » دا د ی چه دمورو پلار لاس داولاد په تربیه کښې ډیر زیا ت تا ثیر لری ، تردې چه داولاد بداخلاقي او کـفرهم مورو پلار ته راجع کیږی . نو که مورو پلار تش اولاد زیږوی اودسمې

روزنی فکر یی نه کوی . نو لویه اجتما عی او دینی گناه کوی .

دغه شان ټول اجتماعی حقوق دوه مخیزه دی . داچه په حدیث کښې راغلی دی : « ستاسو هر یو د رعیت خاوند دی ، او د خپل رعیت په باب به ور څخه پوښتنه کیږی . » دامعنی لری چه هر یو فرد او هر ه طبقه بنا ئی چه خپله وظیفه په ښه شان اجرا کی . که نه وی اجتماعی سعادت لاس ته نه راځیء .      ( کندهار ۸ حوت ۱۳۲۹)

✡✡✡✡✡

# افغانی ثقافت

آیا مونږ خپل افغانی ثقافت لرو ؟
مخکښې تردی چه ددغه سوال ځواب ووایو ، لازمه ده چه دثقافت دمعنی بیان وکړو . ځکه ترڅو چه ثـقافت ونه پیژندل شی بحث ورڅخه عبث دی .

دلته‌دوه نوری کلمی همشته‌چه یوه‌ئی تهذیب اوبله ئی تمدن دی . دتهذیب اکثره په علمی او اخلاقی ښایست اطلاق کیږی . تمدن ، عمران اجتماعی ارتباط او نیك سلوك ته‌راجع دی . دیوقوم ثقافت ددغه قوم‌خپل تهذیب او تمدن ته‌وائی . چه‌په دی کښې علوم فنون‌اخلاق سیاست ، قانون ، مذهب او اجتماعیات داخل دی .

اوس دسر سوال ته‌ځوچه آیا مونږ خپل افغانی ثقافت لروکه یه ؟ ځواب دادی چه‌هو ، مونږخپل افغانی ثقافت درلود اولرو یی . ځکه‌چه په پښتونخوا ( آر یا نا) کښې چه کوم اقوام او قبائل اوسیږی ، ددوی هستو ګه د لته سوونو اوزر ګونو کالو ته رسیږی . نوددغو قبائلو او عشائرو ګلې ګذران چه دطبیعی او جغرافیائی تقاضا له کبله چه هرقوم بل‌ته اختیاج درلود ـ پیدا شو . دغـه

(دا او مړی‌ځ مقاله ده چه په افغانستان کښی په ثقافت لیکلی شویده .)

گذران ددغه یوتر بله مربوط نژادونو او اقوامو په منځکښې یوځانته مخصوص تهذیب اوتمدن یعنی «ثقافت» منځ ته راووړ .

له دې څخه په څرګند انکارونه کاندی چه افغان قام اودده نور آریائی ورونړه چه په ټوله پښتونخوا کښې له زرګونو کالو څخه اوسیدل، دوی خپل مخلوط ، یورنګ اومتحد علوم ، فنون ، معارف ، اخلاق ، عمرانات ، صنائع ، قوانین اومذا هب درلودل . چه ددغوله مجموعی څخه یومخصوص ثقافت پیدا شو . زه اوس دلته دااوږده خبره چه هغه نو څه شی دی ؟ چه باید په ډیرو کښتا بونو کښې بیان شی ، نشم څیړلای . مګر دومره ضرور وا یم چه مونږ یعنی پښتون یاافغان قوم له ډیرو پخوانواعصارو څخه خپل ثقافت او اجتماعی روح درلود ، اولرو ئې .

دخپل ثقافت ساتنه دیوقام دبقا او استقلال د پا ره ډیره ضرور او لازمی ده . اودخپل ثقافت ساتنه دخپلې ژبې موسیقی، ادبیاتو، مستظرفه صنا ئعو، رقص، علومو، فنونو او اجتماعی روح ، روایاتو او اخلاقو دسا تلو او متر قی کولو پورې اړه لری .

له ډیر پخوا څخه بیا دمیرویس خان اواحمد شاه بابا پورې افغانستان خپل ثقافت ساتلی او روزلی دی . تردی

وروسته د «افغانی ثقافت» نمر ورځ په ورځ زیږیدو چه څو په نوی دوره کښې ورته بیا توجه پیدا شوه . تر دی د مخه مونږ خپل ثقافت تقریبا هېر کړی ؤ . مونږ هیڅ نه پوهیدو چه مونږ څه شی یو او که نه ؟ مونږ څه شی د ر لو د ل او که نه !

اوس چه د علم زمانه ده . باید مونږ خپل ثقافت ته پوره توجه وکړو . او د خپل ثقافت په تقویه کولو سره خپل قومیت او ملیت ټینګ کړو . تر څو چه په د نیا کښې آبرومند ژوند وکړی شو .

☆☆☆☆

# سعادت په څه شي کېښې دی؟

«دا انسان فاضل ملکات» او «انسانیت او حیوانیت» مقالو کښې(۱) مونږ په مختصر ډول وښودلی دی چه انسانیت څه شی دی. او کامل څوك دی؟ په دی مقاله کښې دسعادت موضوع تر بحث لاندی راځی چه انسان څنګه مسعود کیدای شی او سعادت په څه شی کښې دی؟ دلته باید داخبره وکړی شی چه مطلق سعادت او کامله خوشبختی چه انسان پرې کاملا له غم، الم او تکلیف نه خلاص شی امکان نه لری. ددی دپاره چه انسان یو متحول، متغیر، او دزوال په څنګ وه ولاړ موجود دی، هر آن تغیرات او دعوامل تاثیرات دی له یو حال نه بل ته اړوی را اړوی. دبدن میکانزم او دنفس او دماغ کیفیات دی په هرساعت کښې هم په یوه حال نه پریږدی. حوائج او غوښتنې، او دبانديني عوامل هم دی رېړوی. ولی سره ددی ټولو خبرو انسان یو مترقب سعادت او اضافی نیکبختی لری. چه دغه حالت ته ورسیږی، نو مسعود ګڼل کیږی. او تر ډیره حده در نځ، الا مو، او مصائبو څخه خلاصون موندی شی. اوس زمونږ د بحث موضوع دادهچه دغه اضافی او نسبتی نجات او سعادت په څه شی کښې دی؟ زیاته برخه پسکښې څه شی لری؟ او

---

(۱) دادواړه مقالې تردې وروسته راځی.

ښه‌نګه دغه سعادت حاصلېدای شي ؟

ددې بحث زیات زور په‌دې خبره‌دی چه آیا دولت او جاه کولی شي چه سړی مسعود کاندی ؟ او لکه ښه‌نګه چه‌ټن جهان تصور کوی چه‌سړی دولت او ثروت لری او جاه او رتبه ور حاصله وی ، نودی هرڅه‌دی . او دسعادت لوی او غټ عامل دولت او قدرت ګڼي . مونږ په‌دی‌ځای کښې له‌دی خبری انکار نه‌شو کولای چه‌مال ، دولت او پیسه‌دژوند دپاره ضروری شی‌دی . او پوهیږو چه‌انسان یوژوندی حیوان دی ، خوراك ، ښځاك ، دتن اوبدن اړتیاوی ، ښځه ، اولاد ، کورکهول ، بنه اوبداو نور ضروریات ور پوری مربوط دی . نو په محض فقر او بیچاره‌ګۍ کښې مسعود نه‌شی کېدای ، نو ځکه مونږ چوره ناداری په‌حساب کښې نه‌نیسو . بلکه په‌حاجة‌زیات ثروت او متوسط حال په‌نظر کښې نیسو . او فکر کوو چه سعادت ته کوم یو نږدی او قریب دی . هو ، دلته یوه بله خبره‌هم دویلو ده اوهغه‌داده‌چه ثروت په‌فردی لحاظ سره مونږ په‌حساب کښې اخلو ، نه‌په اجتماعی لحاظ سره . مثلا یوه جامعه که‌هر څومره ځکه ولاړه شی یا انسانیت ټول پورته ولاړشی ، او ژندګی له‌هر پلوه عروج وکړی په دغه شی کښې زمونږ بحث نه‌دی . یایوه جامعه په‌دولتی

او مجموعی حیث سره بلهایه شی داخبره بده نه ګڼو . مګر داوایو چه یو سړی یاځوك په یو دولت یاجامعه کښې زیات ثروت او مال حاصل کړی او نور خلك په متوسط حال کښې واخلو ، کوم یو به سعادت ته نزدې وی . په دی ځای کښې چه سړی فکر کوی نو ګوری چه دولت مندان او ثروتمندان اکثره له اخلاقی مزایاؤ او انسانی فضائلو څخه محروم پـا ته کیږی . ځکه زیات دولت پا یه زیات انهماك او کوشش یا په میراثی صورت سره حاصلیږی ، نو هر کله چه انسان د دولت په حصول یاحفظ کښې زیات منهمك شی روحی او انسانی جنبه ئی ضرور بالضرور ناقصه پاته کېږی . نو داسی سړی د دولت دحصول یاحفظ د پاره د مناهیؤ او ناروا ؤ په ارتکاب نه اړ کیږی . نو هر کله چه ګـنا وې پخپله د سړی زړه تو وی ، فضائل وژنی ؛ او د نو رو ګـنا ؤ د ارتکاب د پاره سړی تیاروی . نو په دغه حال کښې د ګـنا ؤ په واسطه انسان ځان ته پخپله خپل محیط مسموم کا ندې ، نو په مخالفتو نو ، رقابتو نو ، بد اخلاقیو ، او عموما په امراضو او ناروغیو اخته شی . شاؤ خوا ، ځوی او لور ، کو رو کهول ورته بو شی . نو دی پخپله هم بد بخت شی . او خپل محیط هم بد بخت کـا ندی . د دغسی سړی په زړه کښې رحم عاطفه ، مینه ، محبت ، عشق او د انسانیت د عالی او آسمانی عالم نمر پلوشی نه کوی . نو پخپله فـکر وکړی ؛ یو ځی په خوړلو اغوستلو ، او حیوانی لذتو نـو انسا ن مسعو د کېدای شی ؟ نو ځکه زمونږ نباغلی استاځی صلعم ویلی دی : « د دنیا محبت د ټولو ګـناؤ سر دی » د مال او ثروت وفرت د نفس طغیان او بغاوت پیدا کوی . او د دینه په

خوراك ، څښاك ، عيش او عشرت كښې سړى افراط ته رسېږي . نو هر كله چه دژوند بنا پهاعتدال ده . دغه افراط دجسمې اوروحې ناروغيو مو جب شي او سړى هلاك كاندي . قرآن كريم فسق او طغيا ن دمتر فينو لهخواصو څخه ښودلى دي !

لو يه خبره دادهچه هر كله دسعادت او نجات لو يه برخه دروغتيا او د نفس داطمينان اودخاطر پهآسودګۍ پوى ارتباط لري . اودا مقام پهعلم، اخلاص او كمال حاصلېږى . نهپه ډېر دولت او ثروت . نوځكه مونږ ډېر دولت دسعادت عامل نهشو ګڼلى . اوهر كله چه مو نږ په انسانى محيط كښې مالداران زيات ناآرامه، سرګردان اوپه عذاب وينو . او ګورو چه ددوى عمرونه دمتو سطو طبقاتو اندازى ته اكثراً نه رسېږي ، او كه فقراء په فقرالدم اودپلو په ضعف مرى . نودوى دوينو پهفشار ، روماتزم ، دزړه په مرضونو ، اودسږوډخرابۍ لهكبله مرى . كهغرباء لهولږى څخه عذاب وينى ، نو مالداران د بد هضمۍ او تخمې څخه په تكليف كښې وى . بله داده چهمالداران چههرڅومره پهمزو اوچړچو پسې ګرځي خداى هماغومره ور څخه دژوندګۍ مزه اخلي . دوى دحرص پهسبب خوند نهشي اخيستاى . پهمقابل متوسط الحال خلك لهخپل منځګړى حال څخه زيات محظوظ كېږي .

مونږ وينو چههر څومره مال او نغم زياتيږى ، قدرت له انسانه څخه قوت اوجمال اخلي . او مدنيت دا نسان دضعف او اضمحلال او داخلاقو دانحطاط ، او د انسان دزړه دنارامۍ سبب ګرځي . لهدغه پوله ډيرى خبرى

او دلائل د لته شته چه د دولت کسالت او خمو د او متوسط الحال ژوند قوت او انرجی او توان او نشاط پیدا کوی . نو په دغو ملاحظو سره ویلی شو چه ډیر دولت د سعادت سبب نه دی . بلکه بدبختی پیدا کوی . د دی مضمون دا معنی نه ده چه سړی په کار کسب او وظیفه کښې سستی وکړی . بلکه معنی ئی دا ده چه د حرص ، آز او د بل انسان له ضرر او بدبخت کولو څخه به ځان ژغوری . او اخلاقی فضائل او خیر رسانی به له نظره نه باسی !!!

✡✡✡✡

# انسانیت او حیوانیت

زمونږ خالق چه د کائناتو او ددغه خاکی کرې له پیدا وښته وروسته نباتات ، حیوانات او وروسی د انسان نوعه پیدا کړېده ، نو انسا ن د نباتاتو او حیوانانو څخـه و ر و ستـه پیدا شوی د ی . ځکه چـه دا نسا ن ژ و نـد د نـبا تـا تو په وجود مربوط دی . هر کـله چه انسان متکامله نوعه ده ، په متکامل څیز کښې داد نی او ټیټو شیانو آثار ، نمونی اوعلائم ضرور باید موجود وی اوهمدغسی انسان هم دی . دلته که وګور و اول د نباتاتو خاصه چه نموده وجود لری . او وروسته د نور و ا دنی حیوانانو آ ثار او علائم اوپه آخره کښې دده د کما ل اوعلویت نښې او استعدادونه دده په خټه او سرشت کښې لیدل کیږ ی .

مثلا جرائیم وګوری دا ، دادنی حیوانانو څخه دی ددوی له خواصو څخه داده چه په ظلمت تا ر یـکیٔ ا و پټو اوګـنده ځا یو کښې خوښ وی - پیشواوسپی وګوریٔ متملق او خوشا مندګر حیوان دی - لیوه بیا څیرووونـکی اوخو ږ و نـکی دی ! ما ر ، لـړ م ، چیچو نـکی ا و آزارووونکی دی . دشاتو ، مچۍ ، میږ ی ، ګو نـګو ټان اوداسی نور په ذخیره راغونډو لو ا و جمع کو لو کښې شهرت لری . خر په شهو ت پر ستیٔ ضرب المثل د ی .

همدار نـګه دزمری په خواصو کښې قوة اور شادت اوعالی

جنابي ښکاري . ګیدړه ډېر محیل او چالباز دی . باز
بې رحمه او ظالم دی . ماهیان خپله نوعه خوري د شاتو
په مچیو کښې زبردست ایثار او نوعه پرستي موجوده ده .
په دغه شان سره انسانان هم ځینې د جراثیمو او طفیلاتو
په شان خپله ژوندګي د بل په وینو څښلو بنا کوي ، خپل
کارونه تل په پټه او په تیاره کښې اجرا کوي ، هیڅکله نه
غواړي چه کوم حقیقت ښکاره او آفتابي شي . له نوره او رڼا
څخه تښتي . جهل یې له علمه خوښ وي ، او ډاګې ته راوتل
نه غواړي . ځینې نور د پیشو او سپي غوندې متملق وي
او د ګیدړه په شان چالباز ، خپل ښکار په عجیبو او غریبو
چلو نو لاس ته راوړي ځینې انسانان بیاد باز او لېوه په شان
د نورو د غوښو په خوړلو عادي وي ، او د ماهیانو غوندې
خپله نوعه خوري . ځینې لکه مار ، لړم خوش په خوشه
اذیت رسوي او خوندور څخه اخلي ځینې انسانان د مچیو
میږیانو او ګونګټانو غوندې جمع کول کوي ، له حاجته
زیات راغونډوي ، او تر دې چه د نورو کورونه ورانوي
چه خپل ودان کړي .

ولې له بل طرفه په انسانانو کښې د اوښ په شان تحمل
د سپي غوندې وفاداري ، د پیل په شان لویه درونه د زمري
په ډول شجاعت او عالي جنابي د شاتو د مچیو غوندې
ایثار او د زاڼو په څېر نظم ، د میږیانو په ډول د یسپلېن هم
پکښې لیدل کېږي . اما انسانیت د پاره علم ، عالي فکر ،
د ګذشته او آینده سنجش ، د مقاماتو او مراتبو طی او قطع

کول او په اخلاقی صورت سره د خیر او افادی مقام ته ځان رسول لازم دی . کوم وخت چه انسان په خپل زحمت سره د نورو خیرغواړی او دځان په ایثار بل ته نفع رسول دده خوی شی ! او له مادی او جسمانو لذائذو څخه تیر شی او یوازی دده خوند او ذوق د نورو په پاللو او روزلو کښې مختص شی ، دده میل او ر جهان یوازی او یوازی خدمت ته وګرزی ؛ نو د غه وخت انسان کمال ته نژدې شوی وی .

په دې مقام کښې لوړی درجی د پیغمبرانو او ټیټې درجی د نیکانو او صلحا ؤدی . دغه نو انسانیت دی .

کابل - ۱۳۳۳

✡✡✡✡

# انسان او فاضل ملکات

انسان په جنسیت کښې د نورو حیواناتو سره شریک دی
خوړل ، څښل کور اولاد ، جنسي تعلقات ، د فاع ، او د بقا
دپاره تنازع داټول د حیواناتو په منځ کښې مشترک شیونه
دي . که د ذره بیني حیواناتو ژوند ته سړی ملتفت شي ، نو هم
دغه ټول غرائز پکښې موجود دي . واړه جراثیم چه بې
د ذره بین له مرستې نه لیدل کېږي ، د خپل خوراک ، تناسل ،
مقابلې او دفاع په باب دومره محتاط او هوښیار دي چه
حتی انسان هم دغومره نه پوهېږي نو ګویا انسان ته انسان
ویل او اشرف المخلوقات یې ګڼل د ده د فاضله ملکاتو
په لحاظ دي . چه هغه علم ، اخلاق دیانت رحم ، عاطفه ، نوع
پروري ، ایثار او د نورو دپاره خدمت دي .

که دغه ملکات له انسانه واخستل شي ، او یوازې خودي
او خود پرستي پاته شي نو انسان په دې وخت کښې له اکثرو
حیواناتو څخه ټیټ دي . اوس هم که زمونږ فاضله ملکات
په نظر کښې ونه نیسو ، نو په جهـان کښې داسې وحشي
انسانان هم شته چه د بل انسان غوښه خوري . غـلام یې نیسي
او د خپل مفاد دپاره یې داسې قربانوي لکه باز چه مرغۍ
نیسي او په مزه مزه یې خوري او د هغې په چغو او فریاد یې
زړه نه سوزي ! تاسو خپلو زړونو ته متوجه شئ دغه کسان
چه یوازې د جاه او جلال عظمت او استکبار پسې ګرزي
او دغه شي په حصول کښې په روا او ناروا باندې اړ نه وي
خوشامندې کوي ، دروغ وایي ، دسیسه او چل جوړوي ،

خلك غولوی، پیسې جمع کوی، او ایمان او شرافت ور باندې
خرڅوی ، نور آزار وی او خپله خېټه یا د اولاد بدن غټوی
یا خپلې ماڼۍ اوچتوی ، او د بل انسان، اهل وطن همنوعه
اوورور په حال یې زړه نه سوزی هیڅکله ، د یتیم ، یسیر
مظلوم او کونډې، غریب او مسافر په حال یې ستر ګې نه
لمدیږی .خندا دغرض دپاره، خبری دغرض دپاره ور کړه
راکړه دغرض دپاره ، دپښتنو په اصطلاح :
(بې مزه کارمې نزده ، چه مزد راکړی کارمې ښه زده )
دا کسان چه پیر استاذ ، پلار و مور ، مشر او حقدار ورته د خپل
غرض او مفاد په مقابل کښې په کسیره نه ارزی ، او د ګو ټکې
غوندې خپل مردار غو ټاری تولوی، او تل یې په همدغه
جیفه نظروی ، که ډیر دولتمن شی او ډیرو شتو اورتبو
خاوند شی ، او ناز او نعمت یې له کوره بیرون وخو ځیږی
تاسو ورته انسان ویلې شئ ؟ زما یقین دی چه ټول به راته
ووایاست چه «نه» نو معلومه شوه چه انسانیت په فاضلو
ملکاتو پوری اړه لری ، نه په دولت ، منصب ، ماڼۍ او ښه
لباس او اساس . دانسان په خټه او فطرت کښې دغه فاضل
ملکات پراته دی ، او مونږ ورنه (دخیر دغریزی) په کلمه
تعبیر کوو . هر انسان که خپل ضمیر او زړه ته متوجه شی
دا آواز ورنه راولاړیږی چه :« ښه کوه» «نیکی کوه »
داخدایی اوازدی ، دا دفطرت او سرشت آواز دی ،
دادعرش اولاهوت آوازدی . مګر تاسف دی او بیا تاسف!
چه شیطان هر څوک نه پریږدی چه دغه آواز ته غوږ ونیسی
وائی وری ، او عمل پرې و کړی!!! کابل - ۱۳۲۳

☼☼☼

# پښتانه په قرآن کښې

مولانا ابوالکلام آزاد په خپل یو مشهور تحقیق کښې داخبره په ښه شان سره ثابته کړیده چه ذوالقرنین هغه چه په قرآن کښې یاد شوی دی (کوروش) دی چه په (۵۵۹- ۵۱۹ ق ، م) کښې تیر شوی دی . وائي چه دیاجوج اوما جوج (سد) چه په قفقاز کښې دی اویا جوج اوما جوج هغه قوم دی چه دقفقاز د تنګې نه هغه پلوته پراته وو او هر کله ئې چه هیڅ مدنیت نه درلود ، قرآن په (لایکادون یفقهون حدیثا) سره یاد کړی دی . دی وایی : ماجوج ، ماګوګ منګول او مغول سره نژدی لغات دی چه په دوه نیم زره کالو کښې لاندې بانديې شوی دی . (کوروش) هخامنشي شاهنشاه دی چه په تورات کښې د(دوه ښکر ی قوچ) په نامه یاد شویدی .

یشعیا پیغمبر ، دی دمشرق دعقاب په صورت ښودلی دی . مولانا وائي : په همدغه دوه لحاظو نوسره دکوروش کومه مجسمه چه په پاسارګاد یعنی (مشهد مرغاب) کښې پیدا شوی ده ، دوه ښکرونه اودعقاب وزرونه لری .

مولانا په دغه تحقیق کښې لیکي :دذوا لقرنین دوهم قدم په مشرق الشمس یعنی په هغه ځا ی کښې ؤ چه نمر راخیژی .

هیرودوت او کتزیاس وائی : کوروش د(لید ی) او (بابل) دفتح نه مخکښې دغه مځکې ته مخه و کړه . ځکه دغه ځای کښې اغتشاش موجود ؤ . وائی : چه دا خبره

دقرآن سره مطابقت لري : (حتی اذا بلغ مطلع الشمس وجدها تطلع علی قوم لم نجعل لهم من دونها سترا) یعنی کوم وخت چه دمشرق انتهاته ورسید وئې لیدل چه لمر په یوداسی قوم خیژی چه دخپلو ځانو نودساتلو دپاره دلمر دګرمۍ څخه وسایل نه لری . وأئې چه داقوم کوچی قبایل ووچه په ښارونو کښې نه اوسیدل اوطبعاً کور و نه او ځیږونه ئې نه در لودل .

مولانا لیکی : چه ښه ! داقبایل څوک او دا ځمکه کومه ده ؟ دی وایی : دیونان دمؤرخینو له لیکنو څخه معلومیږی چه ښائی داهماغه د(باکتریا ) یاد بلخ قبایل وی . کوم وخت چه مونږ نقشی ته ګورو ، وینو چه بلخ نسبت ایران ، ته لری شرق دی ځکه چه له دغه ځایه غرونه یووار ارتفاع مومی اولاره بندوی ، وائی چه کوروش شرق ته مخه وکړه او تر بلخه ورسید .

ښاغلی کهزاد په خپل تاریخ کښې لیکی چه پخوا په بلخ کښې د آرین دنورو اقوامو څخه یوقوی او لوی قوم دپښت اوپکتین په نامه هم په بلخ کښې اوسیدل (۱) اودا هماغه پښتانه دی چه دوطن دحمایت اوحفاظت دپاره ئې دوه نیم زره کاله مخکښې دذوالقرنین سره مقابله کړی دی چه دقرآن کریم دنص په اساس هغه وخت هم کوچیان او مالدار وو . اودهغو اولاده اوس هم هماغسی

---

(۱) دباکتریا اوباختر لفظی ارتباط دپکت ، پکتین ، بخت بخد ، بخل ، بلخ ، بښت ، بښتیا ، پکتیا ، پښتین او پښتو ن سره دفلا لوژی له مخی ښیخی ښکاره ده دی . «خادم»

وطن دوسته او حریت پهسنده پوونده دی .

تاریخ داهم ثابتوی چه عقاب دلوی کور و ش نخښه اودهغه دستری وا کمنۍ د برم علامه ده .

والی چه : کوروش خورا نیك خصاله ستر واکمن و .

❋❋❋

# غوریان څوك وو؟

سو ر اوسام د وه ورو ڼـه وو . سو ر دقبیلې مشر او سر دار ، اوسام یې سپه سالار ؤ . دسور لور د سا م په ځوی شجاع واده وه ، شجاع دخسر نه خوابدی شو دغو ر غرونوته لاړ ، او په فیروز کوه کښې ئې بادشاهی جوړه کړه . محمود غزنوی په ۴۰۱ هـ کښې داریاست ختم کړو. محمد سوری ئې دخپل زوی حسن سره ونیو . دمحمد سوری په اجازه حسن له زندانه وتښتید غور ته لاړ ، او بیا ئې هلته حکومت جوړ کړ ، دمحمود کړوسی بهرام شاه چه خپل ځوم قطب الدین سوری وواژه ، نودهغه یور دهغه ورور سیف الدین واخیست داسې چه په غزنی ئې جنګ ور وړ ، او فتحه ئې کړ . بهرام شاه کرمان ته و تښتید . غزنی دسیف الدین په لاس کښې پاته شو. څه موده پس د غزنی دښار دهغه خلـکو په په فریب چه پښتانه نه وو او د پښتنو دښمنان وو ، سیف الدین سوری ونیول شو او بهرام شاه ته په لاس ورغی . بهرام شاه سیف الدین او دهغه وزیر مجد الدین په ډیر رسوا او بدرنـګ صورت وو ژل .

هر کـله چه ددې واقعې نه دسیف الدین بل و ر و ر علاؤالدین ته په غور کښې خبر ورسید . نو له غیر ته ور باندی اور بل شو .

علاؤالدین له غوره راوړ نـګو له او ددې غیر ت په کار کښې ئې دغزنی دلتو ټول پښتانه و لسونه ځان سره ملـګری کړل . دغزنی ښارئې محاصره کړ ، د بهرام شاه زوی دولت شاه چه دفوج سپه سالار ؤ په جنګ کښې قتل

شو . پښتنو غزنی ته اور واچاوه ، دغزنی ښار وسو .
بهرام شاه هندوستان ته وتښتید . او علاؤالدین په دغو
لمبو دخپل زړه اور سوړ کړ ، اودپښتنو لیږ کسات ئی
واخست . نو ځکه علاؤالدین ته مخالفینو جهانسوز و وایه .
دبهرام شاه بل زوی خسروشاه هم له وړی هندوستان ته وتښتید .
په دویم ځل چه بیاغزنی دعلاؤالدین په لاس دسوری
پښتنو لاس ته ورغی نوعلاؤالدین ګرمسیل ، کندهار
تکتیناباد فتح کړل اوخپل وراره غیاث الدین ته ئی وسپارل .
دغه سلطان غیاث الدین غوری او سلطان شهاب الدین
غوری سکه ورونړه دی . کوم وخت چه د حکومت واګی
دغوریانو لاس ته ورغلی ، دوی دغزنویانو د روستنی
جرړی له لاهوره څخه هم وایستی ځکه چه دبهرام شاه
په لاس هلته حکومت جوړشوی ؤ .
شهاب الدین غوری داسلام مشهور شاهنشاه چه د اسلام
بیرغ ئی ترتبت او بنګال پوری رسولی او جنګ کړی ؤ
ټول هند ئې په اسلامی نظام کښې راوست .
په آخر کښې د۳۴۵ کاله حکومت نه وروسته په غزا کښې
دکافرو له لاسه په ۶۰۴ ه کال په هسیاك کښې په شهادت
ورسید .
زیارت یې د غزنی په دیهك نامی کلی کښې دی . دا
اجمال دهندوستان د تاریخ په اول جلد کښې له ۱۴۵ مخ نه
تر ۳۴۹ مخ پوری راغلی دی (له ننګیالی پښتانه څخه) .
اوس دغور اودقت خبری دادی چه په فیروزکوه کښې دشجاع
دحکومت جوړولو نه مخکښې سور اوسام ورونړه چیر ته وو؟
ددوی حکومت او اداره تر کومه ځایه وه ؟ ددوی سلسله

ترکومه‌رسیږی ، او ئه اسلامه مخکښی دی کورنی ځه حال درلود ؟

دمحمود غزنوی جګړه دغور دکورنی ځ سره یوازی په حکومت وه او که نور عوامل یی هم در لول ؟ اسلام دغزنی په دربار کښی ډیر ټینګګ ؤ او که دسوری اوغوری سلطنت په کورنی ځ کښی ؟ غور یان مخکښی مسلما نان شوی‌وو ، که‌غزنو یان ؟ څه مسلکی اختلاف‌وجود درلود که‌یه ؟ دغور یانو اوغزنویانو مجادلو څومره زما نه اشغال کړه‌اوڅه کار نامی پکښی‌وشوی ؟ داټکی د تاریخ له‌عبرو څخه‌دی چه‌دافغان په‌خاوره بی له‌افغا نه بل څوک حکومت نشی کولای، اوچه‌څوک دپښتون دا نتقام اورته لمن ووهی په خپله پکښی سوزی، نوی نسل به‌د پور ته اجمالی تفصیل راوباسی که‌خدای کول !

کابل - ۱۳۳٦

✲ ✲ ✲ ✲

# دزړښت اوځوانۍ په باب

انسانی جوامع یعنی اقوام اوملل دانسان دافرادو په شان ځوانی اوزړښت مرګ اوژوندلری. کهددې مرحلې نه یوقدم نورهم پسې ورتیرشو اوفکر وکړو نو دحیات اکثره قوانین په حیوا ناتو اونباتاتو کښې یوشان ، یورنګ او متحددی . نو ګویا دمرګ او ژوند ، زوړ والی او ځوانۍ مسئله په ژوندو اجسامو (حیوا ناتو اونباتاتو) کښې یورنګ قانون لری . زندګی پهدغو اجسامو کښې په یو مرموز صورت سره آغاز مومی ، ترقی کوی ، بیا دانحطاط درجې ته رسیږی اوپه آخره کښې مرګ ور باندی طاری کیږی .

مګر زمو نږدځېرنو موضوع دغهده چه پهسر کښې مو ورته اشاره وکړه چهدغه حیاتی قانون کټ مټ په انسانی جوامعو هم تطبیقیږی یعنی اقوام او ملل هم ځوانی زوړ والی ، مرګ اوژوندلری .

ولته ددقت خبره داده چه پهدغوټولو صورتونو کښې دحیات ادامه اوتسلسل دیودائمی حشراونشر دتاثیرلاندی جریان لری دژوندو اجسامو پهانـاجو اوسلولو نو کښې یومتواتر مرګ او ژوند روان وی .

یعنی ځینی سلولونه مری اوځینی نوردهغوپهعوض پیدا کیږی اودهغوځای نیسی . مړهذرات دجسم دحیاتی قوت پهواسطه لهبدنه دفع کیږی اونوی اوتازه ذرات ئې پهځای دریږی . هروخت کهپه یو ژوندی بدن کښې ددغه

فعل و انفعال ، کون و فساد ، او تغیر او تحول سلسله ودریږی نو بس دغه وخت بیا دغه جسم مړ دی او حیات قطع شوی دی .

دحیوانا تو د بدن وینه له یوی خوا دهوا او غذا او او بو له ذراتو څخه په بدن کښې په کیمیاوی صورت سره جوړیږی ، له بلی خوا همدغه وینه په بدن کښې صرفیږی اکسیجن په بدن کښې هضمیږی ، او کار ین له بدنه اخراج کیږی د بدن له کاره لویدلی او مړه ذرات د بول ، براز صفرا ، خولی او نورو افرازاتو په ضورت دفع کیږی او په دغه شان سره حیات دوام کوی نو دغه جسم او فرد چه تاسو ئې وینئ په مادی حیث سره په لږه موده کښې کاملا بدلیږی . ستاسو هغه جسم چه په لس کلنئ کښې وجود لری په ۳۰ کلنئ کښې عیناً هغه نه دی بلکه بل شی دی .

دحیوانی دساتلو اودحیات دنشاط دبقاد پاره داضروری ده چه نوی او تازه مواد دمصرف شوو څخه زیات یا اقلا په هماغه اندازه بدن ته ورسیږی که نه نو چه مصرف زیات وشی او عوض یی رانشی نو حیات مضمحل کیږی اومرګ دخپل راتګ دپاره چانس مومی .

ددی دپاره چه یو بدن تازه او نوی مواد په زیاته اندازه سره تیار او هضم کړی شی د نسن و رځی علم او دانش عجیبی او غریبی لو بی را ایستلی دی ، مګر دغه لو بی چه مونږ ته نوی ښکاری ، بنیادیی ډیر پخوانی دی . پخوا خلکو داخبره معلومه کړی وه چه یوی وني به عمل نه کاوه نودغه و نه به یی ووهله ، او کونسلوه به

یی کړه نوهغی ونی به ښه عمل وکړ، او تازه به شوه ·
کوم یوسړی به چه لړ مضمحل او مریض غو ندی شو
نومناسب جلاب به یی ورکړه، یابه یی په فصد حجامت
سره وینه ورنه وایستله، اوپه دغه شان سره به دغه بدن
تازه اوتوانا شو· حمام، تعریق، پوستکی اچول اوله دی
قسمه نوری معالجی ټول یو اصل ته را جمع دی او هغه
داد چه په یوه ذریعه سره دذ رایعو حیاتی قوت ته چه
په ژو ندی بدن کښی موجود دی، تحریك ورکړی شی چه
هغه فعالیت وکړی اوخپل تولیدات زیات کاندی او شك
نشته چه په دغو ذریعو سره حیاتی قوت متنبه کیږی او
زیات کار کوی نوځکه تندرستی ښه کیږی· نوی علم او
فن ددغه مقصد دپاره نوی لیاری پیدا کړی دی مثلا هر
کله چه تجربی ثابته کړه چه خصیتین دبدن د نشاط او
فعالیت دساتلو دپاره ډیر لوی کار کوی، نواول خو یی
خپله دخصیو جوهر استحصال کړچه هغه په سړی وخوری
او په دی ترتیب سره خصیتین اودهغو عمل تحریك کاندی
وروسته چه ورمعلومه شوه چه خصیتین خوهم زیښت لری
نو په زړو اشخاصو کښی یی دځوانو خصیو دپیوندولو
عمل تجربه کړاو کامیابی وشو· همدارنګه انتقال الدم او نور
خورا ډیر اعمال دی چه دحیات دتجدید او دځوانی ء
دطول اواعادی دپاره په دنیا کښی کیږی ·
دویټامینی اوهورمونی معالجو فلسفه همدغه ده چه
بدن اودهغه اورګانزم تحریك شی او بدن ته زیات عوض
ورسیږی او تقویه شی· په دغه شان سره داقوامو او مللو
ژوند هم پخپل ذات کښی په څه مبادیؤ او بنـیا دو نو

ولاړدی دغه مبادی اواساسات دعصر اوزمانی په تیریدو سره زړیږی، له کاره لویږی، اومری، او ددغو په فـنا سره قوم اوملت هم فانی کیږی اوله منځه ځی.

مثلا هرملت اوقوم په خپله ژبه، ادبیاتو، روایاتو، اوخپله قومی فلسفه او کلچر ولاړدی اوقدرتادفطرت دقانون په اساس سره هرشی تحول کوی اوبدلون پکښی راځی نو که دفطرت دتقاضا سره سم په دغه مبادیو کښی تحول او اضمحلال راشی، اودتجدید لپاره یی نه وی نو پوه شه چه دغه قوم اوملت دفنا خواته روان دی.

په اسلام کښی دمجدد دپیدا کیدو اصل اوقانون ته چه په حدیثو کښی اشاره شویده دا، د دی دین دهمیشه پاتی کید و لوی دلیل دی. حضرت پیغمبر صلعم ویلی دی: «خدای پاك دهری صدی په سر کښی یو مجدد پیدا کوی چه هغه داسلام دین له شوائبو څخه پاك کوی او تجدید پـکښی کوی» یعنی اصلی او اساسی مبادی ئی بیرته تازه کوی، او روښانوی ئی.

هرکله چه تغیر په کائناتو کښی د فطرت لا یتغیر قانون دی. نوهرهغه قوم اوملت چه دزمانی دسیر سره مطابق دده په ادبیاتو، ژبه، تاریخ، روایاتو، اخلاقو اوقومی فلسفه کښی تجدد رانشی؛ اوددغه قوم منورین ددغه قوم په مبادیو اواساساتو کښی دتجدد دپاره فعالیت و نـکړی. نودا خبره له شکه وتلی ده چه ددغه قوم زړیږی، اوزمانه زاړه محوه کوی اوله منځه ئی باسی.

زمانه په دې کار کښې دومره قوی ده چه بی له دې چه سړی ئی سره تطابق وکړی په هیڅ صورت سره د زمانی

له تاثیر نه خلاصیږی . هرانسان که غواړی چه زمانه ئی ژر ونه غورځوی ، باید دائما متوجه اوسی چه دزمانی تطورات په نظر کښی ونیسی . اوموافقت ورسره وکړی.

که سړی له یو محیطه یو کال اویاخوموده غائب وی او بیاراشی نوځان بهورته پخپله خورا نا اشنا او بل شی ښکاره شی . اوکه سړی پخپله دکاروان سره روان وی، نوکه ډیرمزل ووهی نوبیاهم دخپل کاروان سره ملګری وی ، البته زمان اومکان بدل شوی وی .

نوجوامع هم همدغسی دی ، کهدزمانی دسیراوتحول سره سم پکښی تغیرات نه کیږی ، ژبه ، روایات ، تاریخ، اخلاق اوفلسفه ئی تجدد نه پیداکوی ، نودزمانی سیلاب یی وړی .

کوم اقوام چهپه دنیا کښی ژوندی اوقوی پاتی دی، دهغوی دبقاء یګانه علت اوسبب دادیچه هغو دتجدد عصری اوتحول مخهنهوه نیولی ، اودزمانی دسیرسرهئی سمدژبی ادبیاتو ، روایاتو اواقوهی ذاتنی رجحان نوی کړیدی .

خلاصه داچه پهزوړ منطق دنوی دنیا استدلال نشی ردکیدای . اونه پهزوړسپرسره داینتم دسلاحځوابورکول کیدای شی . اونه یو قوم بی لهخپل روحه په مستعار هاو تقلید ی وضع ژوند کولی شی . خپلقومی روح په کاردی . اوپه دغه قومی روح کښی دقومی او ملی شئوناتو په اساس تجدد لازمدی ، چهخو زمانه دغهقوم دخپل قانون په اساس دحیات له صحنی څخه دباندی ونهغورځوی . نوځکه ژوندی اقوام او ملل دحیات

په شتو نا تو کښې دقو میت په‌اساس ترمیم او تجدد د پاره دروز مره فعالیت مخه آزاده پریږدی . او په‌ دا ئمی گوښښ سره دعصر تخریب دحیات د تجدید په‌واسطه تلافی کوی . که‌ددغه مراعات نه کیدلای نو دچین ، هند، برطانیی فرانس ،روس نو مونه به‌دبابل ، آثور ، یونان او روم په‌شان ددنیا دژوندو اقوامو له‌فهرسته لویدلی وای .

«و یلی داسر دحیات خضر خجسته گام دی
دژوندانه دپاره روح کوشش ناتمام دی»

☆☆☆☆

# د هندوستان د ملیت بنیاد

بیشکه دخندا ځای دی که چیری څوك دهندوستان او یادکوم بل مملکت موجودیت دیو انسان دموجودیت په شان متصور کړی ، زه پخپله داسی فکر نه کوم . زه په هغه اختلاف اومغایرت چه د هندیا نو په حیات کښی وجود لری پوره پوه یم . په طبقاتو ، فرقو مذ ا هبو ، انسانی نژادو نو او دهندی کلتور په تفاوت په عمومی ډول خبر یم . سره ددی هم فکر کوم چه دا مملکت په اوږدو کلتوری سوابقو اودژوندانه په یوی عمومی نظریی سره کوی هغسی روحیی ته چه دغه مملکت پوری اختصاص لری ترقی ورکړی ، اوهغه روحیه په یوبنه ډول سره دهند په ووړو کښی پو کړ ی !

آیا څوك کولی شی چه په چین کښی دهمدغسی قضیی دوقوع نه انکار وکړی ، دایو روح دی چه زه ئی په هندوستان کښی لټوم اودالټو نه ډیره تیزه ده ، اوزه هم پخپل کار کښی پوره کفایت خرڅوم . سبب دادی چه زه تصور کوم چه دا کار بهداسی کلی ماته په لا س کښی را کاندی چه بنائی په هغی سره به دخپل حکو مت اوملت په منځکښی دمفا همی او همدا ر نګه د هند په وسیعه ساحه کښی دفکر اوعمل دلار ښو دنی جذره پرا نیز م !

پالیټکس او انتخابات دروزانه کارو څخه دی ، اومونږ هره ورځ دجاری موضوعاتو له مخی متهیج کیږ و . که چیرې زه وغواړم چه په آینده کښی دهند دپاره یوداسی

کور جوړ کړم چه محکم ، مامون اوقشنګک وی باید چه لهاوسه ئې بنیاد داسې محکم کښېږدم ، چه دزما نی باد وربا ندی کوم تاثیر ونکړی . پهلږه زما نه کښې د هند لوېې ترقۍ تهخلك حیران دی ، مګرپه کومه فلسفه باندې چهدهند دحکومت بنیاد دهند زعماؤ ایښې دی ، هغې ته نه ملتفت کیږی .

پهپورته خو کرښو کښې چهدښاغلی نهرو د«ډسکو ری اف انډیا» کتاب څخه اقتباس شوې دی ، دد غه فلسفې دتهداؤ تیری نظرته رائحی . دهند دحکومت داساس تیره دهند پهملیت او نشنالزم ایښودل شوی ده . اودغه ملیت او نشنا لزم دهند دزرګونو کالوپه تهذیب او ثقا فت ولاړدی . نوهغه بناچه بیخ ئې دومره پوخ وی بیشکهچه ډیره ټینګه اومستحکمه وی !

نوکه دهرملت زعماء دغو مره عمیق اوژور فکر وکړی ، پهدغومره پوخ اومتین کار باندی مو فق کیدای شی .

✡✡✡

# موږ کومه لیاره ونیسو؟

ما نه زما محترم دوست ښاغلي مولانا «ارشاد» خواهش وکړ چه د هیواد جریدې ته د دغه جریدې په وضع کړې افتراح «موږ څه غواړو» باندې څه شی ولیکم. موږ څه غواړو؟ او باید څه وکړو؟ د واړه یوه معنی لري. تش دومره خبره ده چه غوښتونکی ځان ته وظیفه نه ټاکي او د بل نه خواهش کوي. او څه کوونکی ځان د پاره وظیفه تعینوي. هر کله چه دغه دواړه جملې یو ملت او جامعې ته متوجهې شي، نو د څه غوښتلو څخه د څه کولو پوښتنه زیات قیمت او اهمیت لري. ځکه چه په دې صورت کښې ګویا د ملت هر فرد ځان د پاره د یو اجتماعي غړي په حیث وظیفه معلوموي، او د هغې د اجرا د پاره تعهد کوي او ملا تړي. نو ځکه په عین حال کښې چه زه په اقتراح مضمون لیکل غواړم عنوان مې بدل کړ. او وې ویل موږ باید کومه لیاره ونیسو؟ - کومه لیاره ونیسو، څه وکړو، او څه غواړو، په مآل او نتیجه کښې یوه معنی لري. مګر لکه چه ما پورته وویل موږ د یو ملت په حیث باید د چا نه خواهش ونکړو. بلکه باید پخپله په شاعرانه او دانسته صورت د موجوده علم او اجتماعي حقائقو په رڼا کښې ځان ته خپله ملي لیاره او وظیفه تثبیت او تعقیب کړو. دا خبره خیړل نه غواړي او معلومه ده چه هر ملت ځانته هویت او شخصیت لري. او هر ملت په خپلو روحیاتو مسلماتو او نفسیاتو ژوند کوي او کولی یې شي، نه د بل

چادپل په تنګه ، او نه محض په لاشعوري او هردم خيالي
باندې . داقوامو او مللو سجايا او روحيه د څو سو او
څو کالو خبره نه ده . د يو ملت ملي عنعنات عمرونه غواړي
چه څو دغه ملت په خپل ګډ او اجتماعي فعل و انفعال سره
يوه لياره ځان ته غوره او خوښه کړي او دغه لياره بيا
دکورنيو، قبائلو او شعائرو په روزمره دود او دستور کښې
تحت الشعوري کيفيت پيدا کړي ، او په نفس کښې ځاى
ونيسي . يعنې دتوارث په اساس دغه ملي اعمال افعال او
آرزوګانې دقوم په وينه کښې جاري او ساري وګرځي ؛
نو دغه وخت ورته مليت يا ملي شعائر او ملي کلتور يا ملي
ثقافت ويل کيږي . که څه هم نن صبا ملتونه هم په مصنوعي
صورت سره جوړول کيږي . مګر دطبيعي او مصنوعي
ملتونو په منځکښې دومره فرق موجود دى لکه دغر او
خټو دديوال . که دمصنوعي ملتونو ترشا د طبيعي مللو
قوة او تکيه موجوده نه وي ، نو لکه يو ديوال
چه د خدايي سيلاب په مخکښې دريداى
نشي دغه شان مصنوعي ملتونه هم دطبيعي مللو په مخکښې
مقاومت نشي کولاى . زمونږ بحث پخپل ځان او خپل
مليت کښې دى . مونږ بايد کومه لياره ونيسو؟ په دنيا کښې انزوا
او کناره ګيري ديو مدني انسان دپاره ناممکنه ده؛ دغه
رنګه په ملي صورت هم اوس نشي کيداى چه يو ملت
ددنيا ملتونو په منځکښې کوم داسې وضعيت غوره کړي
چه دچاسره اختلاط، ګډون، او مراودات پرې کاندې .
نن دنيا يو تر بله بيخي نژدې شويده . هر ملت مجبور دى .

چه د نورو سره معاملی، تعلقات، دوستی راشه درشه او ناسته ولاړه ولري.

نو په دی صورت کښی هر کله چه د دنیا هر ملت او قوم ځانته مخصوص سیاست، دژوندانه طرز، مدنیت او ایدیالونه او ځانته فلسفهٔ لری ځکه چه لکه مخکښی مو وویل بی له دی څخه نه یو ملت تشکیلیږی، او نه ژوندی پاتی کیدلای شی. ښه نو مونږ به اوس څه کوو؟ دغه ملتونه چه هرچا اوهر ملت سره نژدی کیږی، او ګډیږی خپل رنګ او خپله صبغه غواړی. په دغه شان سره هر ملت بیله تقاضا او بیله غوښتنه لری. دلته یوازی اقتصادی او دمفاد سوال په منځ کښی نه دی. دلته اجتماعی، کولتوری، سیاسی اودنفوذ او تأثیر اچولو سوال هم په منځ کښی شته. ښه نو که مونږ مثلا دیو ملت سره دهغه دغوښتنی سره سم موافقه کوو، نو دغه نور مونږ نه خفه کیږی که نه؟ او که دټولو په خواهش کار کوو، نو آیا داممکنه ده چه یو ملت په ټولو ساحو کښی دټولو ملتو په خواهشاتو سم وچلیږی؟ که ټول وا نخلو او ځینی و اخلو، نومثلا یو ملت چه دری څلور وملتو نوسره ګډ اندی توب او تعلقات لری نو په دغه شان سره دغه څلور، پنځه هندوانی په یو لاس کښی نیول ممکن دی؟

هرهوښیار سړی اودعقل خاوند پوهیږی چه نه دا کار ممکن نه دی. نواوس څه کول په کار دی؟ په کار دادی هر ملت چه دنورو سره تعلقات ساتی باید په یو علیحده ملی شخصیت اوخپل اجتماعی هویت ورسره مخامخ شی. داسی نه چه دهر ملت دخوشحالیٔ دپاره دهماغه ملت

ژ به، کولتور او ثقافت په خپل منځکښې جاري کاندي، او خپل
ورته پریږدي. اګرچه ځینې کسان به په دې عقیده هم
موجود وي، چه نن دنیا اقتصادي ده، او دانور شیونه
څه قیمت او اهمیت نه لري. دوی وایي داقتصاد په تغیر
سره دحیات په ټولو خواؤ کښې تغیر راځي. مګر فکر
داپه کاردی چه هماغه مللو او اقواموچه له مونږه په
سیاست او اقتصاد کښې مخکښې تللي دي، هغوی ګوندی
اقتصادي موقعه دخپل کولتور په پریښو دلو حاصله
کړیده، او که نه بالعکس دخپل ثقافت په ټینګولو دوی
موفق شوي دي چه په اقتصادي میدان کښې هم له نورو
وړاندی شي؟ دابحث ډیر اوږد دی. خو زه ورنه په
اختصار تیریږم. او راځم خپل مقصد ته:

مونږ افغان ملت باید دیو تاریخي ملت په حیث خپل
سجایا او نیك خصلتونه چه له پلرو نو څخه دزر ګونو
کالو په زمانه کښې راپاتي دي ټینګك کړو. او وایي ساتو
او دیوثابت او مستقیم ملت په توګه دخپل طبیعي او خدایي
قومي روح په واسطه، په دنیا کښې ژوند کول وغواړو.
ځکه چه علم وایي چه د انسان ټول
فعالیتونه د ده دغرائز او فطرت په واسطه له ده څخه
صادرېږي، او غریزه هم بې له یو قدیم او ډیر پخوانی
توارث او عادت څخه بل شی نه دی ـ نو که څوك دهر چا سره
دهغه په طبیعت مخامخ کیږی نو له یوی خوا که داخبره
ممکنه نه ده، نو له بلی خوا ډیر اضرار او مفاسد هم لري.
دهر فرد او ملت بقاء او حیات دهغه دشخصیت او مخصوصی
خودۍ د بقا او ژوند پوري اړه لري. نو که مونږ دیو

مستقل ، آزاد ، او تاریخي ملت په حیث په عزت او وقار سره په دنیا اود نورو اقوامو په ډله کښې ژوندی پاتې کېدل غواړو ، نو زمونږ په مخکښې یوه لیا ره موجوده او هغه داده چه خپله ژبه ، خپل ملیت ، خپل تاریخي غیرت او شهامت محترم وګڼو ، او هر چاته که څه هم شرقي وي یا غربي ، ځان دافغان ، پښتون او مسلمان په شان وښیو ، او افغانیت باید په دنیا کښې تر ټولو مسلکو مهم ، قوي او متین مسلك وشمېرو . بس دغه شی دی چه مونږ یې غواړو او باید ویې غواړو .

کابل ۱۴ دسرطان ۱۳۳۶

✻✻✻✻

# د پښتنو مقابله د سکندر سره

د حضرت مسیح علیه السلام تر میلاد تخمیناً (۳۲۷) کاله پخوا دهخامنشیانو ترزوال وروسته یونانی سکندر دهندوستان د نیولو په غرض د پښتنو په ځمکه حمله وکړه خودمخه تردی چه هندوستان ته ورشی ، افغانستان او پښتونستان کښې دداسی سختو مقاومتو سره مخامخ شو چه څو کاله دده قول لښکر د پښتنو په غرو او رغو کښې حصارؤ اودی پخپله دوه واره دپښتنو له لاسه ټپی شو .

د (۳۲۷ قبل المیلاد ) په پسرلی هغه وخت چه سکندر د هندوکش دشمال له خوا دهندوکش جنوبی خواته حرکت کاوه، دده عسکر یو سل او شل زره ملی او پنځلس زره سپاره وو . دخاو الګ دکوتل لهلاری په لسوورځو کښې دپروان هغې نظامی کلاته را ورسید ، چه دوه کاله یې د مخه جوړه کړی وه . دهغه ځای حاکم یې معزول کړ او له خپلی خوا یې حاکم وټاکه ، او هم یې خپل څه ستړی عسکر هلته پریښودل او پخپله د «نیکایا» ښار خواته روان شو . د نیکایا د ښار اصلی موقعیت ښه معلوم نه دی ، خو پروفیسر ولسن هغه د بګرام په شاو خوا کښې بولی ، او « ونسنټ سمت » یې دجلال آباد د لمرلویدو خواته د کابل او هند په لاره کښې ګڼی .
کوم وخت چه سکندر د نیکایا ښار ته ورسید هلته یې

واوریدل چه ځینې آریایي قبایل د کنړ، اسمار، باجوړ
سوات او نورو غرونو په غرنیو کلاګانو کښې اوسیږي.

سکندر ته دا هم وویل شول چه دا خلك تر اوسه د هیچا
او هیڅ قوت تابع شوي نه دي او آزاد ژوندون کوي. ځکه
نو سکندر دا عزم وکړ چه دا غرونه فتح کړي

خپل لښکر یې په دوه برخو وویشهٔ، یوه برخه لښکر یې
د ځان سره وساته او بله برخه لښکر یې د دوه لویو او مشهورو
یوناني مشرانو (هفستیون) او (پردیکاس) تر قوماندانۍ
لاندې وټاکل چه د «تکسیلا» د شهزاده په لارښوونه د «پوکی
لاوتیس» د منطقې خواته لاړشي چه هلته پر اباسین باندې
د لښکرو د تیریدو د پاره پل جوړ کړي.

دی پخپله د خپل لښکر سره د لغمان او کنړونو د نیولو
په غرض هغې خواته وخوځید، خو څومره چه دی پرمخ تلو
په هماغه اندازه د پښتنو د مقاومت سره مخامخ کیدهٔ.

د کونړ د سیند پر غاړه یې ډېر تلفات ور کړل او سره ددې
چه د سکندر سره د ټول یونان او نورو مفتوحه ملکونو
مجهز لښکر بیخي ډېر و، خو بیاهم د هغه ځای زنګیالو
پښتنو ډېر و ځنډاوه، او ډېر مشکلات یې ورته پیدا کړل
حتی دا چه د یوې کلا د محاصرې په وخت کښې پخپله سکندر
پر اوږه باندې ټپي شو (۱) چه دا د سکندر په ټولو
جنګونو کښې لومړی ځل دی چه ټپي کیږي.
بر سیره په سکندر بطلیموس د لاکوس ځوی،

---

(۱) د افغانستان تاریخ ـ ۴۱۰ د کهزاد تالیف

اولئو نا توس دسکندر دوه لوی منصبداران هم ټپیان شول.
سکندر دسخت سرو پښتنو له دې مقاومت څخه سخت عصبي او په غضب شو، امر ئې وکړ چه دپښتنو ټول بندیان حه دیوانیانو په لاس کښیوتی دی هغه دی ټول تر تیغ تیر کړی، چه په دی امرئی دپښتنو ټول بیګناه بندیان په ډیر وحشت سره ووژل. خو بیا ئې هم و نشو کولای چه د پښتنو جنګی کلاو نیسی څو په پای کښې سکندر خپل ټول قوت سره یو ځای کړاو کلائی محاصره کړه او ډیر سخت خونړی جنګ ئې شروع کړ. هر کله چه د پښتنو جنګیالو شمیر بیخی لږ ؤ، او هم محاصره ورباندی ډیره تنګه شوی وه، دوی مجبور شول هغه کلائی تخلیه کړه، خو بیایی هم ځانونه متجاوزینو ته تسلیم نه کړل او دغرو سرونو ته وختل، مګر سکندر دومره په غضب شوی ؤ، چه دهغی کلایوه تیږه ئی هم پر ځای پری نه ښودله، له بیخه ئی ونړوله او لوټی لوټی ئې کړه. او هم هر څوک چه ئې پښتون لیدهٔ که بوډاؤ. که ماشوم که نراو که ښځه، ټول ئی په ډیری بی رحمی او ظالمانه ډول وژل. له دی نه وروسته سکندر خپل څه لښکر د «کراسیروس» په قوماندانی د کونړ په دره کښې پریښود، او پخپله د «سوات» دسیند په غاړه رهی شو، دهغه ځای پښتنو چه دسکندر درا تګ واوریدل خپل ښارته ئی اور واچاوه، او پخپله په دې غرض چه ددښمن په لاس ورنشی غرونو ته وختل. تر هغه وروسته سکندر د اسمار له لاری د باجوړ او جندول د پښتنو سره لاس او ګریوان شو.
سره ددې چه دسکندرعسکری قوت ډیر زیات ؤ، خو بیا هم پښتنو دخپلی آزادی ساتلو دپاره لاس په لاس خورا

سخت جنګونه ورسره وکړل ، چه پهٔ دی جنګو کښې د پښتنو یو ننګیالی مشرهم مړ شو .

موورخین لیکی چه سکندر پهٔ دی جنګو نو کښې ځلو پښت زره سړی بندیان کړل او دوه لکه اودیرش زره غوائی ئی پهٔ غنیمت ونیول ، اوځنګه چه هغه وخت پښتو نستان ډیر ښه ځاروی درلودل خصوصا غواوی ، نو سکندر امر وکړ چه ځو غواوی دې دنسل ګیری دپاره یونان ته واستولی شی . (۱)

سکندر تر ډیرو جنګو ورسته با جوړ قبضه کړ او دپسرلی پهٔ وخت د( کوریوس ) تررود خانی چه اوس ئی «پنجکوړه» بولی پوری پوت، اود کوز سوات پهٔ دره کښې بیا دهغه ځای دغښتلو او ننګیالیو او سیدو نکو دسختو مقاومتو سره مخامخ شو .

« آرین» مؤرخ لیکی چه دهغه ځای او سید و نکو دوه‌زره سپاره او تر دیر شو ز رو ز یا ت پلی جنګیا لی مړو نه اودیرش پیلان دجنګړې دپاره حاضر کړ ی وو .

دمسا ګا دښار محاصره :

تردی وروسته سکندر دمسا ګا دښار محاصره شروع کړه «سراورل ستین» ددې ښار موقعیت پهٔ کوز سوات کښې ښودلی دی چه‌وائی لهٔ هغه ځایه د پیښور او ګنند او خواته لاره ځی . سکندر چه‌دی ښار ته راو ر سید د هغه ځای خلکو ځانو نه پهٔ ښار کښې محاصره کړل : پهٔ دی و خت کښې دسوات دباندی اوه‌زره تنه نور پښتانه دښار خلکو

(۱) د(۱۳۱٤) کـال د کابل کالنی ۱٥٤ مخ .

کمک ته راورسیدل، او حصار ته ئې نژدې موقعیتو نیو.
سکندر د دې د پاره چه د حصار دیوال ته نژدې جنګ
ونه نښلی خپلو عسکروته ئې امر ورکړ چه له ښار څخه دې
دغونلیه خواته پرشاشي؛ د دې وضعیت سواتیانو ته جرئت
ورکړ چه، بې له کوم انتظاره په دوې پسې روان شي، او
څرنګه چه د دوی غشي یونانی عسکروته ورسیدل سکندر
خپلو عسکروته د دریدو امر ورکړ او تر سخت جنګ
وروسته سواتیان مجبور شول چه بیرته ښارته ننوځي څنګه
چه ارین لیکي: سواتیانو څلور ورځې په ډیر زړه ورتوب
او میړانه مقابله او دفاع وکړه او یونانی عسکروته ئې
ډیر زیات تلفات واړول حتی په لومړۍ ورځ خو یو غشي
پخپله د سکندر په پښه هم ولګید او زخمي شو. بله
ورځ یونانی عسکرو د ښار د دورانولو او حصار ته د ورختلو
وسائل تهیه کړل. د ښار په دیواله کښې ئې کنډو جوړ
کړ او هغه وخت چه یونانی عسکرو غوښتل، چه په
ښار ورننوځي، پښتنو داسې حمله وکړه چه سکندر او
د ده لښکر ئې ترشا کیدوته مجبور کړل په دریمه ورځ
یونانیانو خپل خورا ډیر لښکر د حصار کنډوته وګمارل
او حصارته نژدې ئې د لرګو یو جګ برج جوړ کړ چه له
هغه څخه یونانی غشي ویښتونکو غشي ویشتل. د دې
جنګ په نتیجه کښې بیا هم یونانیانو ونشو کړای چه
ښارته ننوځي. څلورمه ورځ پخپله سکندر له ډیرو
عسکرو سره کنډوته نژدې راغی منجنیقونه ئې ودرول
او د حصار د شاله خوائې پر خندق د لرګو پل جوړ او خپل
هغه خورا غښتلي او جنګیالي سربازان ئې را حاضر کړل

چه د «تیر» د ښار په نیولو کښې ئې خدمت کړی وُ. خو هغه وخت چه د هغه پله نه تیریدل پل لنګر وکړ مات شو، یونانیان په خندق کښې ولویدل. ننګیالیو پښتنو چه د ښار له دیوالو څخه د دې منظرې ننداره کوله د جنګی چیغو په ترخ کښې ئې یونانیان په غشو، ډبرو، لرګو، تبرو او څه چه ئې په لاس ور تلل ویشتل، خو چه سکندر په ډیر پریشان وضعیت الکتاس د یوټولی نفرو سره مامور کړ چه یونانی ناکامه ټپیان واخلی او بیرته خپلی عسکری چوڼۍ ته ورګرځی.

پنځمه ورځ بیا یونانیانو خورا سخته حمله شروع او په د یوال کښې ئې بل کنډو جوړ کړ، بیاهم ننګیالیو پښتنو ترڅو چه مشر ئې ژوندی وُ په ډیر شهامت او زړور توب د دنیا ډیر لوی قوت ته پنجه ور کړی وه او ورسره ئې جګړه کوله.

نو هغه وخت چه د دوی مشر د منجنیق د یوی ډبری په اثر مړشو د دوی هم څه مړه او څه سټری شول او تر ډیر شور ماشور وروسته ئې روغې ته غاړه کښیښوده. سکندر د پښتنو د زړور توب او دلاورئ مفتون شوی وُ د روغې په شرطو کښې ئې یو شرط دا کښیښود چه پښتانه ځلمیان دې د ده په عسکرو کښې شامل شی. روغه وشوه، او سواتیانو پښتنو د ښار د باندی د یونانی چوڼۍ په مقابل کښې خیمې ووهلی خو څرنګه چه دوی نه غوښتل چه د خپلو نورو پښتنو ورونو په مقابل کښې د یونانیانو په طرفداری او جنګیږی د شپې ئې یوتړون وکړ چه ټول ښار ته ولاړ شی. مګر له دې کبله چه سکندر د مخه په هغه تړون خبر شوی وُ د دوی مخه ئې ونیوله

او په ډیری نامردی او سفاکی ئې هغه ننګیالی پښتانه سره د هغوی د ښځو او وړو ماشو مانو او بوډا ګانو ووژل. مؤرخین دسکندر دانا مردانه اقدام ډیر بد ستائی او دیوه جنګیالی او ننګیالی قهرمان دشان شخه ئې لیری او ناوړه بللی دی . معلو میږی چه لوی سکندر دلته ډیر وړو کی شوی ؤ او د ننګیالیو او زړورو پښتنو په مقابل کښې ئې دقهر مانی احساسات بایللی وو . غیظ او غضب چه د کښته خلکو کاردی پر سکندر ئی حا کمیت مو ندلی ؤ ځکه چه د پښتنو دښځو او ماشو مانو د وژلو شخه ئې هم مخ و نه ګر ځاوه .

دبا زیرا او اورا محاصره :

داد (بازیرا) او (اورا) ښارو نه چه سکندر د (مسا ګا) تر نیولو ورو سته دهغو خواته ځی هم په شر قــی سوات کښې وو .

سر (اورل ستن) دیوه موقعیت په (بر کوټ) کښې او دبل تر هغه لږ شه پورته د (وړی ګرام) په کلی کښې ټا کی .

سکندر د (مساګا) تر نیو لو ورو سته (فوراً کو نیوس) د (بازیرا) ښار ته او (اتالس) او (الکتاس) او د (مترولوس) درسالی کپتانان ئې د (اورا) ښار ته وڅیږل او هغوی ته ئې هدایت ورکړ چه دده تر ر سیدلو دمخه دی هغه ښارو نه محاصره کړی . د (اورا) دښار خلق د (الکتاس) دعسکرو مقابلو ته راووتل مګر یونانیانو هغه مجبور کړل چه د ښار په حصار ننوزی خو په بله جبهه کښې د (با زیرا) دښار په مقابل کښې یو نانیان په آسانۍ سره پرمخ ولاړل .

د (بازیرا) ښار دیوه غره په سر ؤ او شاوخوا ئې ډیر ټینګ

حصار درلود دهغه ځای خلك پهخورا لواړه زړه جنګیدل
او ژنرال (کو نیوس) ته ئی سخت مشکلات پیښ کړل سکندر
چه پهدی قضیه خبر شو د (بازیرا) خواتهوخوځیدخوهر کله
ئی چه واو ریدل چه (ابی سارس) ځینی قبیلې د (اورا)
دښار محصورینو ته دکمك دپاره لیږی لههغې خوائی مخ
راوګرځاوه اولکه څنګهچه آرین وائی (کو نیوس ) ته ئی
هم خبر ورکړ چ څه نفری دی هلته دښار شاؤ خوا تـه
دوضعیت دساتلو دپاره پریږدی او پـخپلهدی راشی .هغه
وخت (کو نیوس) له ښاره لری شواو محصورین له ښاره راووتل
اوډیره خو نړی جګړه وشوه چهدیو نانی مؤرخینو دلیکنو
له قراره( ۵۰۰) تنه سواتیان مړه او(۷۰۰۰) تنه بندیان شول
او نور دشپی په تیاره کښی د(اورنس ) د غره څوکی ته
و ختـل .

د (اورنس) جګړه :

داځای دسواتاو بنیر دجنګیالو دامیدورو ستنی ځایؤ
ځکهچهد (اورنس) څوکی دلوړ والی لهحیثه خورا مهم
عسکری موقعیت درلوداود سکندر پهجنګو کښی ئی دپښتنو
پهګټه ډیر مهم رول لو بولی دی.

(اورنس) دیو نانیانو په روحیاتو باندی ډیر تاثـیر
درلود، او ددوی دافسانو لهرویه هر کلیس) د (زومرا)
زوی (یو نانی رب النوع) هم ددیغره پهنیولو موفق شوی
نهؤ ار ین ددی غره جغرافیایی وضعیت داسی لیکی :

احاطه ئی (۳۰۰) استاد یا، اوډوالی ئی له ۸ تر ۱۱ استادیا
پو ر ی ؤ . او بی لهیو ږسختی لاری چه دزینی پهشان په
غره کښی کیندلی شوی وه بله لاره ئی نهدرلوده پهسر کښی

ئې روانې او به اود کرهڼې ځمکې دومره ډېرې وې چه
زرو تنو ته هلته کروندې او کار پیدا کېدلی شو . د دې غره
هغه لمنې چه د (انهوس) خواته غوږېدلې وې ټولې په ځنګلو
پټې وې سراورل سټین تر ډېرو عملی کشفیاتو وروسته چه
په ۱۹۲۸ ع کښې ئې کړي دي ددې غره موقعیت د بنیر په
(پیرمر) باندې تطبیقوي .
سکندر د «اورا» اود «بازیرا» دښارو دفتح سره د سوات
ټولې درې ونیولې او غوښته ئې چه د هغو عسکرو سره یو
ځای شي چه د « هفستیون » او « پردیکاس »
د قوماندانۍ لاندې د کابل له لارې پېښور ته استول شوي
وو . سراورل سټین وائي د «دیودوتس» او «کوریتوس» له
وینا څخه څرګندیږي چه د «اورنس» غرد « انهوس» ښي
ساحل ته ؤ . سکندر چه د بنیر او بر سوات تر درو تیرشو لمر
خاته خوا «انهوس» ته ئې هڅه وکړه اود جنوب خواته ئې
د هغو سواتیانو او بنیریانو تعقیب کاوه چه د غره
څوکې ته ختلي وو . دده دا اقدام یوه عسکري خدعه
بلله ده او داسې لیکي : چه په دې چل ئې یوخو ددوی
د تښتې لاره د لمرختو خواته وتړله او بل دا چه د «ابي سارس»
کمک رسول ئې هم بند کړل دریمه دا چه د پېښاور او نورو
ودانو ښارو څخه ئې د خپل عسکر د پاره اذوقه او خوراکه
هم په اسانۍ سره را رسولی شوه لنډه دا چه سکندر
وروسته تر هغه چه لازم ترتیبات ونیول د خپلو عسکرو
له منځه ئې خو را ښه سر بازان پیاده او سپاره
غوره کړل او جنګړي ته تیار شو خو دا یوه باید ذکر کړو
چه د سکندر د کامیابۍ یو مهم عامل پخپله د هغه ځای

ځینی بی ننګه او سیدونکی وو ، لکه څنګه چه یونانی
مورخین لیکی دهغه ځای ځینی او سیدونکی د یونان
دلښکرو دراه بندی دپاره حاضر شوی ؤو. د سکندر په
امر بطلیموس دځه لښکر سره په راه بندانو پسی ؤ ، او
سکندر بیا په هغوی پسی تلو. وائی چه د«اورنس» څوکی
(۹۶۰۰) فټه پوری جګوالی درلود او شاوخوائی هم
عموماً ډیری ژوری وی او پښتنو هم دغره له سره پر دوی
سنګړی رارغړولی نو یونانیان په ډیر زحمت شول او ډیر
تلفات ئی ورکړل. او برسیره پردی چه څو لوی منصبداران
ئی ووژل شول نژدی ؤ چه پخپله سکندر هم مړشی .

چنانچه دیونانیانو پدی ناکامی باندی پښتنو دخوښی
چیغی پورته کړی سکندر اوه ورځی په ډیرو مشکلاتو
اخته ؤ خو په پای کښی ئی دونو تنی پری کړی او له هغو
څخه ئی غونډی جوړی کړی او ددی غونډیو څخه ئی
غشی ویشتل .

په آخر کښی سکندر خپل ټول قوت سره راغونډ کړ او
ځکه چه ډیر نا امید شوی ؤ په ډیر جوش او خروش ئی خپل
ټول قوت پکار واچاوه او په دی ذریعه ئی د پښتنو په دفاع
کښی یو کنډو جوړ کړ او هغوی ئی روغی ته مجبور کړل .
سکندر په دغه شان د «اورنس» په غره هم قبضه وکړه او
دسوات او بنیر د پښتنو دامید وروستنی ځای هم دسکندر
په لاس کښیوت (۱) «زیری»

---

(۱) په دی مقاله کښی د ښاغلی احمدعلی کهزاد له رسالی څخه چه «فتوحات اسکندر» نومیږی هم استفاده شوی ده .

# علماء او نوابغ

شوپنهاور مشهور . فیلسوف دمطالعی او تفکر په باب
وا ئی :
ځنګه چه ډیره زیاته مطالعه، فکر وسعت او (وډی) ته نه
پریږدی ډیر لیکل او ډیر لوستل هم دحقایقو دمعرفت مخه
نیسی . ددنیا ډیره لویه کتا بخا نه چه بی نظمه او بی تسر تیبه
وی هغه ارزښت نه لری لکه چه یوه کـو چنی منظمه
کتا بخا نه ئی لری .

همدغه راز ډیره زیا ته پوهه چه په ذهن او دماغ کښی
ښه هضم شوی نه وی له هغو لږ و معلوما تو ځخه لږ قیمت
لری چه په ځز ئیا تو کښی ئی ډیر غور اودقت شوی وی .

په حقا یقو باندی سړی هغه وخت پوهید لی شی چه
دعلیت په قا نون پوه شی او په جز ئیا تو کښی ئی مطالعه
و لری .

ځنګه چه انسان مطالعې ته ضرورت لری تفکر ته ئی هم
لری . مطالعه او تفکر دانسان په ذهن کښی دوه متضاد
تا ثیرونه لری چه که یوزیات شی هغه بل کمیږی .

مطالعه دسړی ذهن دهغو افکارو او عقا یدوتر تا ثیر
لاندی راولی چه ممکنه ده دانسان له ذاتی احتیاجا تـو
سره مخالفت ولری . آزادتفکر یعنی دهغه طبیعی سیر او
حر کت تعقیب چه محیط اوضروری مسا ئل ئی دانسان په ذهن

کښې پیدا کوی دمطالعې په شان څه خاص شی ذهن ته نه سپاری بلکه دفکر کولو تومنه ذهن ته سپاری ، همدغه سبب دی چه ډیره زیاته مطالعه دشخصی فکر دپرورش مخه نیسی او سړی څه قدر سطحی او ناپوهه کوی.

علماءِ اوپوهان هماغه کسان دی چه ډیر کتابونه ئې لوستی وی مګر نوابغ او دفکر خاوندان چه د انسانی مدنیت لاربنودونکی دی او د بشریت قافله د ترقیءِ خوا ته بیائی هغه کسان دی چه دجهان په کتاب کښې ئې غور کړی دی او د نورو په خبرو کښې ئې خپل فکر نه دی بایللی.

( ریزی )

✲✲✲✲✲

# دوستي او مینه

د یونان لوی فیلسوف (ارسطو) د دوستۍ په باب په لاندې ډول نظریه لري، دی وایي: «دوستي یوازې یو ضروري امر نه دی. بلکه یوه شریفه او آبرومنده عاطفه هم ده.

ځینې وائي چه دوستي یو ډول مشابهت دی او هماغه اشخاص یو د بل دوستان وي چه یو له بله مشابهت لري. د همدې سببه باز له باز سره او کوتره د کوترې سره الوځي.

ځینې نور په دې عقیده دي چه که دوه تنه یو کار او یوه پیشه لري نو هغه هیڅکله دوستان کیدای نه شي.

څوک چه د فطرت په قوانینو استناد کوي لکه (اوریپیدس) هغه وائي د وچې ځمکې باران خوښ دی او باراني وریځې دا غواړي چه په ځمکه باران واوروي.

هرا کلیتس په دې فکر دی چه ضدیت د نړۍ د کیدو موجب دی او ډیر ښه موافقتونه له مخالفتونو څخه پیدا دي.

دا خبره به پرېږدو او دا به ووایو چه د دوستۍ موضوع څه شی دی خیر، که لذت که منفعت؟

هغه کسان حقیقي دوستان نه دي چه د منفعت د پاره دوستي کوي او په ګټه مین دي. د دوی دوستي به تر هماغه وخته وي چه یو له بله ګټه کوي، او د ګټې امید موجود وي.

دچا دوستي چه په لذت بناوى او په خوندپسي گرځى هغه هم له حقيقي دوستي ځ نه خبر نه دى. دهغه دوستي هم بى بنياده وى ، ځکه چه لذت هم لکه منفعت بى ثباته دى اوژر بدليږى .

په دى دواړو دوستيو کښي دوست بالذات مقصود نه دى بلکه يا منفعت اصلي مقصددى ، او يا لذت .

پوره او حقيقي دوستي هغه ده چه دښو خلکو تر منځ پيدا کيږى او په ښه والي بناده .

هغه خلق چه دخير خاوندان دى اودبل خير غواړى مينه ئى يوله بله ذاتي او حقيقي ده .

دادوستي په خير او فضيلت بناده او پايه ئى ډيره ټينګه ده دوست هغه دى چه ددوست خير غواړى او خير ور رسوى .

په دى کښي داشرط دى چه يوله بله له عواطفو ډک احساسات لرى اودا احساسات اوعواطف دواړه خواؤ ته معلوم وى .

په دوستي کښي آميزش مينه او ناسته ولاړه ضرورى ده. دوستي د مساوات په اساس ټينګيږى چه بايد يو د بل حق اداکړى او هريو دبل محب وى .

ډير خلق داغواړى چه دنورو محبوب شي او پخپله دهيچا محب نه وى په همدغه وجه خپل متملقين په ځا ن راغونډ وى مګر دوستان نشي پيدا کولاى. متملق هماغه دى چه خپل ځان ټيټ ګڼى يالږ تر لږه خپل دوست ته دا ښئي چه زه په تاوده مره نه يم ګران لکه چه ته پر ما ګران ئى .ځکه دغسي کسانو ته دوستان نشو ويلى .

دوستي هغه مينه ده چه له دوست شخخه بير ته انعكاس كوي او له يوى خوانه وي . همدغه سبب دى چه دانسان مينه له سرو او سپينو سره يا له ښو جامو، او ښو خوراكونو سره دوستي نه ده . ځكه چه له يوى خوا ده او بير ته انعكاس نه كوي .

په دوستي كښې مقابله بالمثل په كار ده او بى مساواته دوستي دوستي نه ده . مينه له يوى خوا پيدا كيدى شي مگر دوستي له يوه طرفه هيڅكله نه وي . دوستي كه د لذت يا منفعت په اثر وى كيدى شي چه بد خلك له بد وخلكو سره يا ښه اشخاص له بدو كسانو سره دوستان شي مگر كه خير او فضيلت د دوستي ء اساس وى ، نو د ښو او بدو تر منځ دوستي نه پيدا كيږى . حقيقي دوستي هماغه ده چه د نيكانو او ښو خلكو په پاكو زړه و نو كښې ځاى لرى . او په خير او فضيلت بناوى . »

✲✲✲

# دغزني ساحه

دغه ځمکه چه دآمو او اباسيند او پامير او بحيرهٔ عرب په منځکښې پرته ده ، دطبيعت اوجغرافيائي وضعيت په لحاظ يو هويت او ځانته تشخص لري . دغه هيواد چه نن دافغانستان او پښتونستان په نو مو بيل يا د يږي په پخوانو اعصارو کښې کله په آريانا او کله په پښتونخوا ياد شوی او نن ورته مو نږ «پښتيانا» ويلی شو .

داځمکه يوه جګه سطحه ده چه داسي لوړو غرونو ، اوچتو څوکو، احاطه کړی ده چه تيريدل ورنه په اسانۍ سره ممکن نه دی . ددی پور ته سرونو او غرونو څخه چه ۱۲ مياشتي په سپينوو اورو پټ دی : شمال ، جنوب مشرق او مغرب ته ورنه لوی لوی سيندونه او دريابونه جاری شوی تللی دی . ددی وطن مزا يا دادی چه ډيره ښه روغتيا ښوونکی هوا لري . داوړی دپاره پکښي زښت ډير ښکلی او ساړه ځايونه ، درې، جلګی اودګلانو ډك باغونه شته . اودژمی دپاره هم داسي تاتوبی لري چه په بی دژمی له مشکلاتو پکښي ګذران کيږی ، او خورا تاوده دی چه ژمی ئی کټ مټ پسرلی دی .

په دی ملك کښي مختلفی اورنګا رنګ خوږی او ښکلی ميوی موجودی دی . اوزراعت اوغلی دپاره هم پکښي ځمکی اووادی ګانی اوميدانونه شته . دلته دمختلفو اوبو اوهوا په لحاظ ددنيا هرقسم فصل او غله کيږی . دځنګلونو ، درو اوايلبندونو په سبب دمال د څرو لو ښه مراتع لري . او له دی جهته چه له د ی ځمکی څخه

پسرلی نه وځی کله ئی په ورو ، ورو یو سر ته ځی ، او کله ئی بل سر ته نودما لدارو دپاره‌خو را مساعده ده .
همدغه وجه ده چه دتاریخ نه ډیر مخکښي ادوارو څخه دلته مالداراو کوچی قومونه‌اوسی ، اودخپلو رمو اوګلو سره چه‌چیرته پسرلی کله‌کوی اوښه هوا پیداکیږی‌دوی هم ورسره سم کوچ کوی ، اوهلته ځی . ددغه ځمکی فضا دبحر نه‌دلری والی په باعث دډیرو وریځو او غونبارونو څخه مامونه اواسمان ئی شین اوروښانه دی ، مګر ښه موسمی بارانونه لری . په‌دغو دلایلو سره دد ی ځمکی اصلی اوبومی خلك په‌ټوله دنیا کښي قوی ، تند رست ، زړور ، خوشقواره ، خوش خلقه ، کریما لطبعه ، طبیعت دوسته غښتلی اوپیمخی دی .
ددی مملکت څخه‌چه طبیعی حصارونه ورنه راچارپیردی اجنبی او پر دی متهاجم قوم ته‌لیا ره نه ور کو ی چه دښا پیر و د ی ښا ر ته را ننو ځی ، او کـه احیا نـاً ور ته ددنیا کو م بها در قو م ننو تی و ی ، نودهمدی‌ځمکی مهیبو دارو او غارونو خوړلی دی او په‌روغو ترینه نه‌دی وتلی . ددی وطن په هره دره کښي زرګونه دغسی تاریخی قصی ویدی پرتی‌دی .هغه‌وخت چه‌د حملو نقل موجوده ذرایع‌هیڅ نه‌وو ،او تنګ‌راتنګ او سوقیاتو خورا ډیر مشکلات لرل نو په‌رسمی اواداری لحاظ یوی‌داسی ساحی ته‌ضرورت ؤ چه‌هم دد ی مملکت نسبتاً منځ وی اوهم څه‌داسی وسعت ولری‌چه دحکومتی اجرا آتو دپاره مساعد وی .
په‌دې مملکت کښي نسبتاً هوارې ځمکی بلـخ، هرات

فراه ، کندهار ، غزنی ، ننګرهـار ، تخار ، پېښور او ښکارپوردی، اوهغه چه مرکزیت لری غور ، باميـان او کابل حسابېږی. ولی په ټولو کښې چه هم مرکـزیت لری اوهـم هواری ،هغه غزنی دی. نو ځکه ددرې څلور زرو کـالو راهیسې دغو ټولو ځايونو ددارالخلافت وارونه تیر کړی دی ، او ورو ستنی وار کابل ته رارسيدلی دی ، مـګر دافغانستان د عظمت او جلال وروستنی وخت په تاریخ کښې دغزنی په نامه ثبت شوی دی .

د غزنویانو لهدوری نه مخکښې غزنی دومره شهـرت نهدرلود ،ښایی چه یوه معمولی ودانی به پهدغه ځـای کښې موجوده وه، ولی دغزنه دعروج نه مخکښې په غـور باميان ،اوپه ملتان کښې د غور یانو او لودیانو پښتـنو کورنیو حکومتونه موجوددوو ،غزنویانو بهدخپل حکومت دمرکز دپارهغزنی په څووجو هاتوخوښ کړی وی،اول داچه غزنی ددغه مملکت مینځ دی .

دوهم داچه یوهلویه ساحهلری . دریم داچه په غزنی کښې دیوپردی قوم له خواحکومت جوړول درقیب قـوم ددوه حکومتوچه یویې پهغور اوبل يې په ملتـان کښې و ارتباط پهښهشان پرې کولی شو او داکـار په پښتنو باندی دحکومت کولو ښهتوطئه وه .

څلورم داچه خپله دغزنی د هواسوړ والی دشپـږو میاشتو دپاره دمهاجمینو پهمقابل کښې ددفاع ښهالهوه. پنځم دا چه لهدی ځایه په هندوستان باندی دحملی کولو دپاره دتوتګی ، خوست اوګومل لهدرو څخه ښې لاری موجودی دی. غزنویانو لهدغه جهته داساحه خوښه کړه

او په سر کښې یې ور ته دار الخلافه جوړه کړه. سطان محمود غزنوی دهغه مخالفت له کبله چه دده دپلار او د ملتان دپښتون پادشا ، سلطان حمید لودی په منځکښې موجودو په خپل وخت کښې یې دسلطان حمید لودی نمسی ابوالفتح په څه چل ول بند ی کړ چه څو په بند کښې مړ شو. او غوریان یې په خپلو غرو نو کښې محصور کړل . ځکه چه له کابل او غزنی څخه د بست د کلا او لښکری بازار پوری ددوی عسکری تنظیم موجود ؤ . او په دغه شان یې دپښتنو نفوذ یا محوه یا محدود کړ . چه څو همدغه مړ او ر دسلطان علاوالدین غوری په وخت کښې بیر ته تازه شو، غزنی وسیزل شو او د غزنویا نو عسکری سدونه دلښکری بازار پوری محوه او نابود کړی شول او سلطان شهاب الدین غوری دغزنویانو وروستنی ځ ریښه چه په لاهور کښې وه وایستله او په دی ځمکه بیر ته دپښتنو سلطنت جاری شو. دغزنی ساحه چه د( شپږ غوائی ، شش کاو ) څخه شروع کیږی ، دمکوره پوری تقریباً پنځه ویرش کروه طول او له قره باغ او دغور دغرو له لمنو څخه دزرملی د حدودو پوری لرو ویر پنځلس کروه عرض لری . ددغه میدان په شمال کښې دوردګو او لوګر غرونه پراته دی . غرب ته یې دغور د غرونو لمنی راپریوتی تمامی شوی دی . مخامخ شرق ته یې یوه پراخه فضا معلومیږی چه تقریباً د سړی نظر زرملی او دګردیز منطقی ته رسوی . جنوبی خوا ته ئی یوغر ښکاری چه د زرملی له حده شروع شویدی د مکور دولاړو او بوخوا و شاپوری رسید لی او دغزنی ساحه

دمخروط په شکل چه قاعده یی شمال ته ده ، له کټواز ه او دسلیما نخیلو له سیمی جلا کوی .

دا میدان مساعده ځمکه او خوږه خاوره لری مگر او به یی ډیری لږی دی چه څه دی هغه هم کاریز و نه دی ، که کافی او به یی لر لا ی ،دی ډاك به دومره غله کړی وای چه تقریباً ټول افغانستان ته به بس وه .داو بو هوا په لحاظ دا ځمکه سړه ده او تقریباً شپږ میاشتی پکښی ژمی اوواوری وی ،او په همدی لحاظ په کښی غنم ، اور بشی ، با قلی رشقه شوتل شولی ښه حاصل کوی .انگور ،منی ،زردالو هم پکښی کیږی .خوښه نه ،البته آلو بخارا ښه کوی .خټکی او هندوانی هم پکښی ښی کیږی .آلو هم دلته ښه حاصل ور کوی .ولی اوچنار هم پکښی ښه وده کوی مگر توت او نوری و نی پکښی نه کیږی . دمالداری دپاره هـم دا ځمکه ښه ده ، دمال د خر لو خواوی لری خوژمی یـی ډیر سخت او مشکل دی .

سلطان محمود غز نوی په دی ځمکه کښی ودانی کـړی دی او خورا ډیر آثار یی معلو میږی .

دسلطان بند ،دز نه خان بند ،دسردی بند اودزرالو بند دسلطان دعصر یادگار و نه دی .وایی چه په دغسی تاسیسا تو باندی یی دا ځمکه ودانه کړی وه . د غز نی ځمکه چه سړ ی د د و ه د ر ی کر و ه .په ا حا طه کـښی گـو ر ی ټولی هدیری ، ورانی گنبذ ی زیارتو نه اوخرا بی دی په دغو ټولو مقا برواومزاراتو دمرمرو دتیږ ولوحی ولاړی دی چه په ښکلی کوفی خط باندی پری عر بی لیك ښکاری . وایی چه ددی ځای اکثره تیږی خلکوخارج ته یووړی .

اوس د تاریخ او موزیم د انجمن لخوا په غزني کښې د اسلامي آثارو یوه غرفه خلاصه شوه چه دغه آثار به راغونډوي او ساتي به یې. په دغه منطقه کښې اندړ، سلیمان خیل، دفتیاڼي، خوګیاڼي، خروټي، تره کي، هوتک، علي خیل او نور ډیر پښتانه قومونه پراته دي. ددغو خلکو شغل لږ و ډیر دهقاني، باغواني، مالداري او تجارت دي. دد ی ځا ی اکثره خلک څه د مالدارۍ او تجارت او څه د غریبۍ ډیر پاره ژمی دا باسیند غاړو او پوري غاړه تر هندوستانه ځي. ځیني خلک کندهار او ننګرهار ته هم ژمی وړي د صحت په لحاظ داخلک خورا قوي دي او د پښتنولي روایات هم په کښې ژوندي پاته لید ل کیږي. له قرائنو او تاریخي شواهدو څخه معلومیږ ی چه دلته پښتانه له ډیر پخوا څخه آباد دي.

ښاغلي کوهزاد دخپل تاریخ د کوشانیانو په باب کښې ویلي دي چه د کو شا نیا نو پا د شاه «کجولا کد فیزس» چه کوم وخت شمالي ولایات متحد کړل دیو نانو باختري مشهور بادشاه «کندو فارنس» ته یې ماتې ور کړه او چه په کابل او شاوخوا یې بري ومو ند نو دغزني په شاؤ خوا کښې ئې « پو تا یا ن » ما ت کړ ل . د ی و ا یـي چـه «پوتا» هم دغه پښتانه دي چه دهندوکش په جنوبي غړو کښې د پخوا څخه اوسیدل. په دې خبره باندې دفرانس مشهور مورخ «واله دو پوسن» هم اعتراف کړ ی دی اوس هم یې دغزني دښار او نزدې کلیو څخه ده حوزه ټول ټو ل په پښتو تکلم کوي.

دغزني په دری څلور کروه فاصله کښې جنوب شرق خواته یو کلي دی چه «شالیز» نومیږ ی دد غه ځای خلك

که څه هم په فارسي ګرېږي مګر ځان ته پښتانه او مهمند» وائي د مرحوم بر محمد عبدالاحمد کوړنی ء هم چه غزني ته نژدی پر ته ده ، او همدا رنګه د یعقوب خان فرقه مشر کوړني ء ځان مهمند ګڼي . د شالیز کلمه «شاه علي ځي» څخه متحرقه په اساني سره فکر ته راتلی شي .

ممکنه ده چه شاه علی ددغه ځای د کوم تاریخي مشر نوم وی او دا هم بعیده نه ده چه «شالی» هماغه «شولی» وی او د شالیز معنی د «شولو ځی» وی لکه چه د «شلګر» کلمه «شولګری» ته ډیره نژدی ده او «شالیز اره» ئې معنی کیدای شي .

دا خبره واضحه ده چه په دغه ځمکه کښې «شولی» ښې کیږی او د دغو نومونو تحلیل په دی دلالت کوی چه دغزني ساحي پخوا کافي اوبه لرلی تردی . چه شولی به پکښې کرل کیدای او دغه ځمکه دغسي وچ ډاګ نه وه لکه اوس چه ده . نود دومره ودانيء سره غزنو یانو حق درلود چ دلته یي مرکز جوړولو . د شلګر تاو یل په (شل غرونو) هم په اسانيء زړه ته را تلی شي . د شالیز په نژدی احاطه کښې یو بل کلی دی چه «منګور» ئې بولی . کوم وخت چه زمونږ ګاډی له دغه کلي څخه تیریده ما ویل دا کلی څه نومیږی؟ ملګری مې راته وویل «منګور» ما ویل منګور څه معنی ؟ ده وو یل اصل کلمه «ممند کور» دی وروسته بیا «منګور» شو یدی او س په همدغه قرب د جوار کښې د سلطان شهاب الدین غوری نامتو پښتون شاهنشاه زیارت میندل شوی او نو ی جوړ شوی دی د زیارت ځای ته (دیهك) وائي . دغزني د ښار نه

مخا مخ د کند هار په لور د سړك دواړه غاړو ته یو څو کلی دی. دلته عنایت الله خان او د «مهجور» پلـه زمو نـږ آشنایان دی. حاکم عبدالوهاب ددغو کلیو سپین ږیـری دی. دلته ځینی خلك په دی خبر د سخت تینګ دی چه دو نږ «خلج» یو. ما به چه له دوی نه پوښتنه کوله چه «خلج» څـه شی شی دی؟ دوی به ویل «د ترکانو یوه قبیله ده» یعنی پښتانه نه دی نو ما به چه ورته وویل چه تاسو خپلو قوارو او قدو قامت او د ود دستور ته وګورئ دغسی رسا اندامو نه او قامتو نه بی د پښتنو څخه د بل چا شته؟ دوی به راته ویل: ته خو هماغه سړی ئی چه هر شی ته د پښتو او پښتون په عینکو ګوری، ما به دوی ته ویل چه «خلجی» او «غلجی» او «غلزی» او «غرزی» خو یو تر بله په زړګو نو کالو کښی جوړی شوی کـلمی دی چه معنی ئی «دغره زوی» یا کوهستانی دی. هر کـله چه دغه ځمکه دغور د کوهستان علاقه ده او پخپله «غور» هم دغر یوه لهجه ده، او لوی دلیل خو لا دادی چه دلته په لـکو نو غلجی قومونه اوس هم پراته دی. نو تاسو ولی ځانو نه د پښتنو له کړو له باسئ؟ دوی به ویل چه په فلانی تاریخ کښی ئی ویلی دی چه خلج (په دوه زورونو) له غلجی څخه بیله یوه کـلمه ده او بیل قوم تری مراد دی. نو ما به ورته ویل چه دا خبره یوه تاریخی مغالطه ده او د پښتنو دښمنانو دغسی مغالطی ډیری منځ ته راوړی دی، نو دوی به نه منله او په دی به ټینګ وو چه نه، خلجی او غلجی یو شی نه دی، او مونږ پښتانه نه یو، اودا ټینګار ددغه واضحو دلائلو سره چه ما به وړ وړاندی کول له دی جهة و چه بد بختانه د دوی ژبه له پښتو څخه فارسی ته اووښتی ده.

نو ځکه ئې د پښتون له نامه ښځه بدرا تلل او ډير ملا مت هم نه ؤ ځکه چه هر قام چه ؤ ځبل شي او حقير شي نو ښائي چه عوام ئې په ژبه او نامه وشر ميږي او کالي ور نه را غو ټو کاندي او متأسفانه پښتانه همدغه حال ته رسيدلي دي .

او دي نتيجي صغر ي او کبر ي سلطان محمود غز نوي په خپل قوت تهيه کړي وه او دا په دي شان چه خپل در باريې د فارسي ژبي له شاعرانو ډك کړي ؤ ، او په يوه بيت يې دخلکو خولې او لمنې له مرغلرو او جواهرو ډکولې .

نو په دي سياست ئې عر بي ژ به چه تر دغه وخته را ئجه وه له افغا نستان نه وا يسته ، او د پښتنو خپله وطني ژ به ئې هم مغلو به کړه او ځان ئې په دغه چم سره د بغداد له اسلامي دا رالخلافته ښځه جلا کړ او د پښتنو د کلتور او ثقافت په مخکښې ئې هم نوي سد و د راوه او په تار يخ کښې ئې ځان د اسلام سکند ر معرفي کړ .

و ګوري ؟ دخداي کارو نه ، هر څوك چه د اقوا مو په شئو ناتو او طبيعت لو بي کوي زمانـه ورسرة دغسي کـار کوي لکه دغز نو يا نو سره چه وشو : پس له زر کالو پښتو او پښتون همـاغسي په پښو ولاړ پاته شول او د غز نو يا نو سيا سي لو بي يوا زي د تار يخ په پاڼو کښې په ډير دقت معلو ميداي شي ، او بي له هد يرو ئې نور ا ثار چير ته نشته .

داخبره چه زما خلجي اشنا يانو به کو له چه خلجي او

غلجي بيل دي ډېره دحيرت نه ده . رښتيا چه ځينې فارسي مؤرخينو همدغسې ليکلي دي مګر لکه ما چه مخکښې وويل دا يوه خبره نه ده ، دغسې ډېرې خبرې خلکو ليکلې دي او دا ځکه چه دغه وخت د پښتنو ټول تاريخي آثار هوښيارو رقيبانو ټول کړي او له منځه ئې وړي وو . تر پروانه پورې مونږ سره ډېرو پوهو خلکو په دې خبره جګړې درلودې چه غوريان پښتانه نه وو . دا دعوې په خلجيانو هم وه او په لوديانو پسې هم ويل کېدله .

ولې د پټې خزانې راوتل يوه لويه کار نامه وه اکثره دغسې مغالطې او اشتباهات ئې لرې کړل زما په دغه خلجي اشنايانو کښې يو ښاغلي «مهجور» ؤ . دى زما په خبرو پوره قانع شوى دى او هغه تاريخي دلائل هم پيدا کړيدي .

ډېر کرته به زما خاطرې ته راتله چه «مقور» څه معنې ؟ مګر کوم وخت چه زه مقور ته لاړم او د دغه ځاى وضعيت مې په يو عام نظر مطالعه کړ نو پوه شوم چه دا ځمکه يوه چراګاه ده ، په دې ځاى باندې د کوچيانو او مالدارو د کلو د ټنګ لاره ده دا خلك به په اوړي دغور ايلبندو ته تلل او ژمي به دا باسيند غاړو ته کوزيدل .

کوچيان په خپل نقل او حرکت کښې معلوم ځايونه لرى چه هلته اړوي ، دغه ځاى ته مينه او کور وائي نو مقور د «مکور ، منږ . کور ، او زمونږ کور» په لاره مقور شوى دى . دمکور په لاره سړى «جاغورى» ته ځى جاغورى په اصل کښې جاى غورى يعني دغوريانو ځاى دى او ددينه

معلومیږی چه په دی ځای کښې دغـور یانو حـکومت او دا رالسلطنه تیره شوی ده .

متأسفا نه مونږ هلته و لاړ نشو مګر دخلکو دوینا له قراره پخوانی آثار او شواهد او ددغه ځای وضعیت دلالت کوی چه کوم وخت دغور یانو مرکزؤ . اوس هم دغه ځای خپل موقعیت له لاسه نه دی ورکړی، اوزمونږ دهزاره ورو ڼو سردا ران او پوه خلك دغلته پـرا ته دی. جاغوری دمحلی حکومت مرکزدی .

دخوشحالی ځـای دی چـه حـکو مت د غزنی په ساحه کښی د ځلـو ر و بنـد و نـو تعمـیر پـه نظر کښی لری چه یو یی دسلطان بند، بل یی دزنه خا ن بند ، دوهم یـی دسردی بندادریم یی دزرد الو بنددی . دسلطان بند چه د غزنی په شما ل کښی پروت دی نوی ترمیم شوی او په کار لویدلی . دری نور بندونه دسروی او پـروژی لاندی دی .

کابل ـ قوس ۱۳۳۵

# د ملیت حس

د شلم قرن په اوائلو کښې د انسان فکر دیوې داسې دنیا په جوړولو کښې بوخت شو چه په هغې کښې د جنګ او نا آرامۍ آثار او علایم و نه لیدل شي. یعنې بشر په داسې یو ول سره متحد او یکانه شي چه د دوی اتحاد او یووالی د نړۍ د صلحې او امنیت ضمانت وکړي، او د نزاع او اختلاف مخه بنده شي.

د همدې مفکورې په اساس د امریکائي ( ویلسن ) او افریقایي (سمټس) د نظریو له مخې د ملتونو جامعه منځ ته راغله. دې جامعې د دې د پاره چه له یوې خوا په نړۍ کښې صلح او امن ټینګ شي، او له بلې خوا خلک وکولی شي چه په سرعت او آسانۍ سره د لویو قوتونو د علمي پانګو او پر مخ تګ څخه ګټه واخلي، نو د دولتونو د اتحاد طرفداري ئې په کلکه سره کوله.

مګر دا جهاني موسسه د داسې مشکلاتو او موانعو سره مخامخ او مواجه شوه چه له هغو ټولو پیشرفتونو او ښو نظریو څخه چه په نظر کښې وو پس پاتې شوه. حتی داسې حوادث او واقعات چه د دولتو د اتحاد او د صلحې د استقرار سره مخالف وو، د دې موسسې د ړنګیدو او بېخي شکست اسباب وګرځیدل.

د دوهم لوی جنګ نه وروسته ځینو عواملو د نشنالزم «ملیت» مفکوره په یر

شدت او مختلفو ډولو سره منځ ته راوړه.

ددوهم لوی جنګک د نتایجو او د ملیت د مفکورې دمؤثراتو څخه یو د برتانیې دلوی امپراطورۍ شکست او دډیرو داسې ملتو نو او جوامعو آزادي وه چه څو قرنه ئې په اسارت کښې تیر کړ وو، او دآزادۍ مخ یې نه ؤ لیدلی، چه ددغسې ممالکو یو مثال هندستان دی، هند وستان دآزادۍ ګټلو نه وروسته دملیت د نظریې په اساس په دری برخو هندوستان او پاکستان او کشمیر وویشل شو چه کشمیر په همدی اساس سره دهندوستان او پاکستان تر منځ دنزاع او جګړې مورد وګرځید.

پاکستان هم دنشنلزم «ملیت» نظریې په دری حصو تقسیم کړ چه عبارت له شرقي پاکستان او مغربي پاکستان او «پښتونستان» څخه دی چه ددغې وروستی منطقې په سر اوس هم مناقشه موجوده ده!

په شمالي افریقا کښې دملیت خواهۍ نهظت ورځ په ورځ زیاتیدونکی او مخ په انکشاف دی چه د همدې انکشاف له امله دفرانسې تسلط او اقتدار په دغه منطقه کښې مخ په ضعف او انحطاط روان دی. بلکه داروپا مدنیت هم په دغه ځای کښې دملیت او نشنلزم دتقویت دپاره خدمت کوی.

ملیت په امریکا کښې:

دملیت مفکوره په امریکا کښې نه یوازې دهسپانوی ژبانو سره شته، بلکه په ټوله امریکا کښې دغه مفکوره

په ډیر شدت سره د نشوو نما په حال کښې لیدل کیږی .

د کاناډا ملیت چه اوس د ملی رشد مرحلې ته رسیدلی دی . غواړی چه کاناډا دلو یې بر تا نیې له پنجو څخه و باسی ، اوهمدا رنګ په خیال کښې لری چه د امریکی هغه اقتصادی سیطره چه دخپلو اقتصادی چار و دآزادی مخالفه ئې ګڼی ختم کاندی . په هر حال دا کار په لاتینی امریکا او کاناډا کښې یوه مهمه واقعه او تاریخی حادثه ده .

که څه هم ځینی مؤرخان اوفلاسفه د ملیت او نشنالزم مفکوری سره مخالف دی او په امحا کښې ئې زیار باسی . خو سره د دې دوی نه شی موفق کیدلی چه د ملیت حس له منځه یوسی . ځکه چه دا کار دافرادو په ذاتی تمایلاتو متکی دی او لکه څنګه چه خلك د خپل موروثی هیواد(مسقط الرأس)سره بې دلیله محبت او علاقه لری . همدارنګ ئې دخپل ملیت سره هم لری . نو په دی لحاظ ویلی شو چه ددې مفکوری په ضد هر رنګ مقابله کوم تاثیر نه شی کولی .

دا طبیعی ده چه د بشر یو فرد هغې ژبې سره علاقه او محبت لری چه هغه ئې مورنې ژبه وی . اوهمدا ژ به له ټولو ژبو څخه مرجحه ګڼی او هغه وخت ځان مسعو د او نیك بخت وینی چه خپل ملی افتخارات اوقومی غرور د تاریخ په پاڼو کښې ملاحظه کړی . ملیت په هر نسل کښې خپل موجودیت ساتی او په یوه ځلانده څیره سره ظهور کوی !

«نیویارك ډیلی مرر»

❀❀❀❀

# لوګر

یو وخت ما دیوه انګریز مولف یو کتاب لوست چه ده په کابل او افغانستان څه لیکلي وو. ده په خپل تحریر کښې «لوګر» ته «د کابل دغلې منبع» ویلې ؤ. دده مدعا داوه چه لوګر دغلې دپیداوار مهم ځای دی، او کابل دلوګر په غله چلېږي. تر دی ور وسته ځما دلوګر داښد لو کتلو دپاره زیاته علاقه پیدا شوه. لوګر کابل ته بېخي نژدې دی او دکابل دښار نه چه سړی دجنوب په خوا ووځي، نو په دویمه دریمه کروه لوګر ته ورځي. بلکه په حقیقت کښې د بینی حصار نه هغه پلو ته پادسهاکودور بوز نه چه سړی ور تیر شي، نو بیا دلوګر منطقه ده. متأسفانه سره دهغې اوږدې مودې عمر چه په مونږ باندې په بېخوندې سره په کابل کښې تیر شوې دی، دلوګر کتلو ته هم مونږ وخت او فرصت نه ؤ. پیدا کړی.

کوم وخت چه ماته دیو رسمي کار دپاره په لوګر کښې دلږ وګرځیدو موقع په لاس راغله نو لوګر ماته دکابل دمنطقې یوه مهمه نقطه را څرګنده شوه. زما لوګر خوښ شو. او ما پکښې ځینې مخصوص نو امل ولیدل. دوطن دوستي لوی دلیل دا کیداې شي چه سړی هر هر ځای او هري هري ګوټي او بوټي ته په غائر او دقیق نظر وګوري او څه نتیجې ته ورسیږي.

لوګر یقیناً دغلي منلوئې دی. دلته غنم، جوار، شولې او
نور حبوبات په وفرت او کثرت سره کیږي ځمکه یې حاصل
خیزه او او به هم په متوسطه اندازه لري. لوګر یوه دره ده
مګر داسې دره نه چه ددوه لوړو غرونو په منځکښې ژوره
پرته وي. بلکه غرونو خویې جناحین نیولي دي، ولې په غیر
مرتب او منکسر صورت سره. داغرونه چېري وړاندې او چیري،
وروسته شوي دي، او دومره لوړ غرونه هم نه دي ځکه چه
لوګر یوه منطقه ده چه د مرتفعې سطحې حیث
لري.

خو په هر صورت کوم وخت چه سړی د کابل د ښار نه
دلوګر په اراده د ګردیز په سړك وروخوځیږي، نو برابر
دشمال نه جنوب ته دروسي. په لار کښې ودانی، کلي، ولس
پروت دی. داخط چه «پل علم» ته ور سیږي نو بیا ددغه
سم خط نه چه مخامخ ګردیز ته د «تیري» په غاښې او ونښتي
دی، دوه نور سرکونه غرب او شرق ته هم تري بیل شوي دي
شرق ته سرك دخوښیو علاقه داري ته ځي او په شینکې
باندې تیریږي، دسپین غره دغربي بالښت لمنو ته منتهي
کیږي، چه که په دغه غره هم واوړې نو دسپین غره جنوبي
لمنو ته به دځاځیو په علاقې کښې ور داخل شي. ددې کار دپاره
دځاځیو، منګلو او احمدزیو له خوا ډیر پیشنهاد دونه
شوي دي ځکه چه کابل ته ددغو قومونو دپیداوار چه
مهم ئې لرګي چار تراش او سکاره دي دغه ډیره لنډه
او مهمه لاره ده.

راغلو غربي سرك ته: د «پل علم» نه یو سرك تقریباً لمر
پریوا ته طرف ته بیل شوی دی په دې، سرك چه سړی روان شي

نو په دری کروه کښې د لوګر مرکز «برکی برك» ته رسیږی د برکی منطقه یوه ګڼه ودانه شنه ، اوشا دا بـه ده چه په یوه دوه کروه کښې پور ته د «ور دګو » دری ته ور و ځـی .

اودا سرك بیادغزنی دسرك سره نژدی «شش ګاو» ته یو ځای کیږی . دلوګر سیندچه د لوګردری په منځکښې راغلی دی لهور دګو او میدان څخه یی سر چینه نیولی له شمال نه شرق ته راغلی او بیائی دپل علم په ناحیه کښې بیر ته شمال ته مخه کړی ده ؛ د کابل دښار شرقی خواؤ ته ئی او به ور کړی په بګرامیو تیر شوی ، د «تنګګغارو» په نامه کښې د پنجشیر دسیندسره یوځای شوی ، د «سروبی» په لاره ښکته تللی په پیښور کښې اباسیند ته لویږی . دلوګر سیند چه په پسرلی رودی او به لری بیا په نورو میاشتو کښې بی له «زاه» نه چه پخپله په سند کښې پههر څومیله مسافه کښې یودوه ژرندې او به راپیدا کوی ، نوری جاری او به نه لری مګر پههمدغه «زاه» باندې لوګر ودان دی .

څومره چه په لوګر کښې غله زیاته ده هاغومره پکښې میوه لږه ده . مهمه میوه پکښې مڼې او زردالو دی . توت لږ لری . سپیدار اود پوښښ لاګی چه له سپیدارو جوړیږی دلوګر قیمتی پیداوار دی . په لوګر کښې زیات پښتانه خلك اوسی ، ژبه په اکثرو ځایو کښې پښتوده خو پارسی هـم شته .

په لوګر کښې د پښتنو دهغه تولو اقوامو کلی شته چه په کندهار ، جنوبی ، یا ننګرهار او پیښور کښې میشت دی . مهمند ، ساپی ، عبدالرحیم زائی ، وردګ ، وزیر

مسو د ، ورمړ ، يو سفزئي ، ابراهيم خيل ، احمد زائي
او داسې نور او نور پکښې يو ځای اوسيږی مګر دخلکو
رواج او دود غالبا د پکتيا د کلتور د تاثير لاندی دی.
دښځو کالی کټ مټ د پکتيا د اقوامو لباس غو ندی دی.
د لوګر خلك ژوندی او موسيقی دوستا خلك دی. د لوګر
سازاو سرود خور اډير شهرت لری. په لوګر کښې
د «بهائی جان» موزيکاله شاعری دهير ولو نه ده . علماً
فقهاء او په دی نژدی تيره موده کښې د لوګر د منطق او فلسفی
درس خانی دعليحده ياد داشت وړدی .
يو بل شی چه زه يی خورازيات متأثر کړم هغه د «با بوس»
و ياله ده . دا و ياله «د برکی» نه دری ، کروه پورته له
سيند څخه خيژول شوی ده .
اود اوه کروهو په مسافه دسخت غره په ملا کښې تيره او
با بوس ته رسول شوی ده. دا و ياله هغې و يالی ته ور ته ده چه
د «نرنګ و يالی» په نامه د «چغسرای» او دم «کلمی» په
حد کښې د (پيچ) له سينده راخيژول شوی (څو کی) ته را
ايستل شوی ده. يا لکه دلغمان دچار باغ و ياله چه دلغمان
له سينده راجګه او د (ګمبيری) د ډاګ دسره پوری رسول
شوی ده. مګر دغه مسافې به لنډی اودغه زميني به هم سهلی
او آسانه وی نسبت د با بوس و يالی ته . او ما چه پوښتنه
وکړه د با بوس و ياله چه اوه کروه دغره په ملا کښې ئې يو
مخروط قطعه کړی ، با بوس ته را رسيدلی ده ، دلته په
با بوس کښې يی تقريبا اويا زره جريبه ځمکی ته او به
ور کړی دی. (العهدة علی الراوی) مخروط می ځکه ووايه
چه (با بوس) ، (برکی) ته مخامخ نژدی په شمال کښې پروت دی
مګر هر کله چه په منځنکښې غر مانع دی نو ځکه و ياله په دوه مره

لوی گردش سره ور گرځول شوی او را رسولی شو یده. روا یات وائی داکار دیوانو کړی دی.

مګر زه پوه شوم چه دا دیوان همدغه پښتانه دی چه دلته اوسیږی او دوی داکار په پخوانو زمانو کښی کړی دی. پخوانی به اغلبا یادغوریانو اویادغزنویانو دزمانی وی. په دې توابع کښې دمحمود غزنوی دوختو ډیر بقایا نورهم شته او که چا کوشش وکړ په مر بوطه غونډیو او غرونو کښې به قیمتی عتیقه اثار پیدا شی. ما ته دا معلومه شوه چه دلوګر خلك دمشرقی دخلکو نه په پوهه کښې ساده او دجنوبی دخلکو په نسبت دکابل دښار او ضاعوته نژدی دی مګر هوښیار او دلوی فکر خاوندان بههم یکښی ضرور موجوددوی. د «زرغون ښار» تنګی دبند دپاره مساعددی. مګر فنی سروی ته به ضرورت لری. پههر صورت که په لوګر کښې دا و بو درابندولو اوډیرولو کومه مطالعه وشی، او نتیجه ورکړی، دابهلوی کاروی. ځکهډیری ځمکی لااوس همداوبو پهانتظار شاړی پرتې دی. که څههم دخروار دبند پهشان څو پروژی دلته پهنظر کښی دی.

دلوګر علمی، ادبی اولطیفذوقونه باید ور وزل شی. نه چه ووژل شی!

کابل ۱۳داسد ـ ۱۳۳۵

✡ ✡ ✡ ✡

# د ماوځی تونګ د ژوند یوه صحنه

دی وایی : زه په افکارو کښې ډوب وم ، او هری خواته می لاس اچاوه ، په دی وخت کښې چه زه د حقوقو په مدرسه کښې داخل وم ، څه موده وروسته می د تجارت د یوې مدرسې اعلان ولوست چه شاګردان قبلوی .

نو په دی وخت کښې چه چین له اقتصادی جنګ سره مخامخ او د اقتصاد متخصصینو ته ئې تر هر چا او هر څه زیات احتیاج درلود نو د عدالت نه تجارت ته ولاړم او تصمیم می و نیو چه له دی مدرسی نه بل چیرته نه ځم !

د تجارت په مدرسه کښې می یو کال دری میاشتې تیری کړلی ، نوره می پرینبودله او اراده می وکړله چه نور خپل ځان ته پخپله تعلیم درکوم. ځان ته می پروګرام طرحه کړلو او هره ورځ به د ښار یوی کتابخانی ته ورتلم او تر ماسپښین پوری می هلته کتابونه مطالعه کول د ماسپښین نه وروسته به می لږ څه دمه برابره کړه او د دمی برابرولو نه وروسته به بیا به کتابخانه کښې تر هغه وخته پوری په مطالعه لګیاوم چه دروازی به ئې پوری کیدلی. پوره اته میاشتی می په همدی حال تیری کړلی او په دی اته میاشتو کښې می چه له دغې مطالعې نه څومره استفاده وکوله د هغو ټولو تحصیلاتو سره برابره وه چه په ټول عمر کښې می له نورو مکتبونو او مدرسو څخه زده کړی وو، او ډیر کتابونه می په کښې مطالعه کړل . د ادم سمیت ( ثروت الامم ) د ډاروین ( اصل الانواع ) د « جون

ستیوارټ میل) (حریت) دژان ژاك روسو ( اجتماعی قرار داد) دسپنر (منطق) د(مونسکیو ( روح القوانین) کتابونه می په همدغی کتابخانه کښی مطالعه کړل .

دډیرغور اوفکر کولو نه وروسته چه را ته کوم شی دخپل راتلونکی حال دپاره ښه ښکاره شو هغه داؤچه دنوی عصر په تعلیم او تربیه باندی باید ځان پوه اومجهز کړم نو په همدی ملحوظ په یوه مدرسه کښی شامل شوم چه پوره پنځه کاله می هلته تیر کړل اوله هغو ټولو هوسونو سره می مقاومت وکاوه چه دبیلو بیلو مدرسو داعـلانو نو په اوریدلو به راته پیداکیدل په دی مدرسه کښی داخلاقو داستاذ «پانګ تشن‌شی» سره مخامخ شوم .

دغه استاذ خپل تحصیلات په پرنګستان کښی کړی وو ، دی دلوړو اخلاقو اوحماسی روح خاوندؤ .

یوه ورځ می دچین په اطرافو کښی فکر کولو او دچین دنجات مفکوری ډیر په عذاب کړم . بالاخره می په یو اخبار کښی اعلان وکړچه «هغه ایماندار ځلمی کوم او څوك دی چه دوطن په لاره کښی ډیره قربانی ورکولی شی چه څو له ما سره په یو مهم کار کښی ملګرتیا وکړی .»

ددی اعلان حق الاشاعه پوره دوه نیمی روپۍ شولی چه یوه روپۍ ئی دلیوشانګ کنـګ وه چه وروسته زما ښخترین دښمن شولو او بله ئی د «تشانګ لنګ» وه چه وروسته دی د مـر تجعینو قطب شولو او بله نیمه روپۍ ئی د هغه ځلمیوه چه زما ټولو خبروته ئی غوږ نیولو او هرڅه به می چه ویل هغه بـه ئی اوریدل . زه دد ی ټولـو خبرو سره بیاهم مایوسه نشوم بلـکه خپلی مبارزی ته می ادامه ورکړه .

څو چه د هغه جمعیت یعنی د «هسین هسو هدی» زړی شوم چه زما په ژوند او د ټول چین په تاریخ کښې ډیر تاثیر او او پوره اغیز ولری. او وروسته د چین د نهضت دقائدانو او زعیمانو مجموعه و ګرځیدله.

په دی جمعیت کښې ابتدأ هغه ځلمی شاملیدلی شول چه په جدیت جزم او ایمانداری کښې به ئی جوړه نه درلوده، او مونږ په دی عقیده ؤو چه «داوخت ددی نه دی چه عیش وکړو او خپل وخت په خوراك څښاك او له ښځو سره په عیاشیۍ باندی تیر کړو.»

په تیره بیا، پخپله چه ښځو ته ډیر ولږه پام لرنه هم نه درلوده نو پلارمی راته دڅوارلس کلنۍ په عمر یوه شل کلنه جنۍ به نامه کړیوه.

دغه جنۍ ما تر اوسه پوری بیخی ونه لیدله او نه می ورسره کومه شپه سبا کړه بلکه تر اوسه پوری ئی لا پیژنم هم نه. مونږ به هره ورځ د چین د مشکلاتو دحل کولو دپاره غونډه کوله او ددغو مشکلاتو په خواؤ شاکښې به مو خبری اتری کولی.

دغو مشکلاتو زمونږ په حواسو او افکارو دومره تسلط موندلی ؤ چه یوه ورځې د حزب سکرتر په میلمستیا کښې دښو خوراکونو په باب څه وویل هغه مو له حزب نه جلاکړ. زمونږ هدف دا نه ؤ چه خوراك به نه کوو بلکه داو چه د بشری طبیعت مشکلات حل کړو، د انسانی اجتماع دسعادت لاره پیدا کړو، او د چین په مستقبل باندی غور او فکر وکړو.

زمونږ مجا هدی یوائې په فکری مجادلو پوری

انحصار نه درلود. بلکه دخپل ژوندانه دپاره ئې نظام ټاکلی ؤ، په دې ترتیب چه هره ورځ به ئې ډېره لرې لرې مسافه په ډېر نامعقول صورت سره پیاده طې کوله، او په ډېرو لوړو غرونو به ختلو څوکو ته پورته کېدلو او په میلونو میلونو لاره به ئې قطع کوله.

کله چه باران ورېدلو جامې به ئې ورته وویستلې چه دباران خواص واخلي او کله به چه لمر را وختلو نو ورته به ئې ځانونه لوڅ کړل چه دنور خواص واخلي که باد به راوالوتلو کالی به ئې ورته وویستل چه دباد خواص په کښې راجمع کړي، په ژمي کښې به سړو ته بربنډ ځملاستلو او په اوړي کښې به ئې ډېرو درنو شیزونو په پورته کولو ځانونه روږدي او آموخته کول او دې کارونو ته ئې دعامو سختیو قواعد ویل.

په دې وخت کښې ئې په سر کښې داصلاحي دیموکراسۍ او مثالي شوشلزم مبادي دچیني وطنیت د مبهمې او غامضې فلسفې سره ګډې موجود ؤ.

هغه وخت چه زه له مدرسې نه خارج شوم مور مې مړه شوله. ددې له مرګ سره زما ټول روابط له خپلې قریې سره قطع شول او هغه مینه مې په زړه کښې مړه شوه چه دمور دژوندانه په وخت کښې مې له خپلې قریې سره درلوده او تصمیم مې ونیو چه «پیکنګ» ته ولاړ شم «پیکنګ» په دې وخت کښې د ثقافت، سیاست او داصلاحي حرکاتو مرکز ؤ...!

پیکنګ ته ورسیدم خو په داسې وخت کښې چه چور مفلس ؤم او دجیب په کونج کښې مې یوه توره پیسه هم نه وه. دلته مې

په کښت او کر شروع وکړه اودعمل نه به مې خبرې کولې. چه اخلاقو دپخوانې استاذ «یانګ تشن» سره ناڅاپې مخا مخ شوم. ماړومبې اوریدلې ووچه دغه استاذدپیکنګ مدرسې ته تللې دی ده ته مې چه خپل حال ووایه اودخپل ژوندانـه په قصه مې خبر کړ نو یو څه پیسې ئې راکړې او لههغهسړي سره ئې آشنا کړم چه ماته د ژوند نوی لاره راوښیی ، په روح او عقل کښې مې تجدد راولې ـ دا سړی « لی تشی » نومیدو چه د پیکنګ دکتابخانو مـدیر او په چین کښې دکمونستي حزب مؤسس ؤ.

لهده سره مې یو بسیط کارشروع کړ هغه داچه دکتابخانې دلوستو نکو او ورتلو نکو نو مو نه به مې لیکل او پهدروازه باندې به مې ګرځول. سره لهدېهم ډیره موده نـه وه تیره شوې چه دچین له ځینو لویو خلـکو سره مې ولیدل.

همدلته مې دصحافت او فلسفې له ځینو اداروسره لاره ومیندله او د«لی تشی» ترپام لرنې لاندې مې پهدرس شروع وکړه.

لههمدې ځانې زمادانوی حیات دوره سر نیسي اودلته مې دمار کسي مفکورې درسو نه شروع کړل.

«لی تشی» خپله لور چه ماور سره ډیر مینه درلودله او هغې راسره ډیر محبت درلود. ماته په نکاح کړه.

دی ماته دښځې احترام ورښودلـو ، د انسانې مینې اومـحبت او د کورنې پهمحبت ئې پوه کړم.

دغه پیغله ماته ترهرڅه نژدې وهاو بالاخره لهخپل پلار سره «چیانګ کائیشیك» ووژ له.

له اعدام نه په معجزې سره خلاصی :

دمتحدې جبهې دسیاست په مطابق چه ځا کلی یې ؤ، دکمونستیانو دډلی سره په «کوامنتانګ» کښې یو ځای شوم اودچین په بیلو بیلو ځایو نو کښې ددې دپاره ګرځیدم چه دمتعلمینو، کارګرانو، عسکرو اودهقانانو جمعیتونه منظم کړم. تردې وخته پورې چه «جیانګ کایشیک» په د۱۹۲۷ع کال کښې دخلکو دحلالولو امر صادر کړ، او ددې اعلان په اثر یې کم ترکمه دنیم ملیون کوز چینیانو وینې وبهولې.

زه په دې وخت کښې دچین په جنو بـې خوا کښې ددهقانانو اوجمعیتونو په تنظیم بوخت اومصروف وم. ډیره موده نه وه تیره شوې چه ګیر یې کړم، وئې نیولم او سمدستې ئې زما داعدام امر صادر کړ، اوفوراً ځینو عسکرو داعدام ځای ته روان کړم. په لاره کښې ئې زما جیبونه ولټول خو ریاله پیسې ئې پکښې ومیندلې چه هغه مې همدغو عسکروته درشوت په توګه ورکړې.

دوې پیسې واخستلې چه ماپریږدې اوددې کاردپاره خپل منصبدار ته ورغلل چه ور سره تقسیم ئې کړې خو هغه ورته سخت عتاب وکړاوپه ډیر قهراوغضب ئې دوې بیرته راوشړل.

زما اودوې په منځ کښې له دوه سوه مترونه زیـا تـه مسافه نه وه پاتې چه دغه نګاهبانان مې اغفال کړل او خپلې پښې مې راالوځې کړلې په منډو، منډودسو نډو یو ټې ته ورسیدم اوپه همدغه ځای کښې مې دسو نډو پـه منځ کښې ځان غلی کړ.

دغه نګاهبانان چه ځینی دهقانان هم ور سره ملګری شول پټی ته راغلل ښکته اوپورته را پسی وګرځیدل، ځنګك او ځټ ته می تیریدل اوراتیریدل او ځوځو واره زما په سر ودریدل ورځ په همدی کښی تیره شوه او مایوسانه بیرته وګرځیدل مادوه پښی خپلی کړی اوده پردی، په ځغلو می پیل وکړ.

دپیرومندونه وروسته دیوه نیك خویه دهقان کورته ورسیدم. دی دهقان ډوډی راکړه څه کالی او څه پیسی ئی هم راکړلی اوداځینو کمو نیستانو په لورئی لاره راوښوده چه له هغه ځایه په آسانی سره تیښته ممکنه وه.

دادعسبانیت لومړی معرکه وه اودهمدی معرکی له ورځی نه زما اودچیانګك کائی شیك جګړه شروع شوله.

☆☆☆☆

# د انصاف داری یوه نمونه

دانصاف او انصافدار کلمه زمونږ په مجالسو کښی بیخی ډیره استعمالیږی او دا ځکه چه مونږ هر یو انصاف او انصافدار ته اړ یو، او د ځان په باب په هره معامله کښې انصاف غواړو. یقیناً انصاف ډیر ښه خوی دی، او رښتیا ده چه دنیا په انصاف ودانه ده مګر داچه انصاف څه شی دی او څنګه کیدای شی چه مونږ سره دې انصاف وشی او څنګه دنیا په انصاف ډکیدلی شی، لږ شانی غور غواړی.

ددری آخرو سوالونو ځواب دادی چه مونږ هر یو دانصاف په لار روان شو او داسی ونکړو لکه رحمان بابا چه وایی: «که چاتله دانصاف په لاس کښې درکړه ☼ خپل ټټو او د بل لاس به برابر کړی!» بلکه دانصاف په هغه لوی قانون عمل وکړو چه د پښتو په دی متل کښې ذکر شوی دی «چه په ځان دی پیر زونه وی په بل یی مه پیرزو کوه!»

دلته غواړم چه دانصاف دښودلو او مجسم کولو دپاره یوه نمونه ذکر کړم. د ډیرو کلونو څخه دا واقعه زما په حافظ کښې پاتی ده. د سفر په ورځو کښې یوه ورځ زه د ګاډی په ټیسن کښې ولاړ وم په دی ټیسن کښې یو غریب سړی دخپل قوت لایموت دپیدا کولو دپاره، کړهی باندی کړی وه، پیکوړې یی پخولی، او دهغو په خرڅولو یی خپله ګذاره کوله. یو سړی راغی ددغه پکوړه والا سره یی دآشنائی او تعارف خبری ونښلولی دکړاهی خوانه کښیناست، یوه پیکوړه یی

واخسته وئی خوړه، بله یې واخسته او دریمې ته ئې
ګوتې ور تیری کړې .

په دې منځ کښې یو بل ناآشنا سړی ولاړو، هغه چه
دامنظره ولیده. له جیبه ئې پیسې راوایستې دغه مفت
خواره ته ئې ونیوئې، ویل یې وروره ددې غریب سړی
پیکوړه وړیامه خوره. که ډیر شوق دې کیږی او پیسې
درسره نه وی نودغه دې پیسې واخله!

وخت ډیر تیر دی داز ما په یادنه ده چه دغه سړی
داپیسې واخستې او که نه، مګر ددغه ناآشنا سړی دغه
دانصاف شریف ذوق مې ډیر خوښ شو .

زماچه تل دغه حادثه یادیږی په دغه سړی بااندی
آفرین وایم. او زړه ته مې راځی چه حقیقتاً داسړی
دانصاف خاوندؤ اودغه معامله دانصاف ښه نمونه ده .

☼☼☼

# خطابی القاب

خطابی القاب هغه کلمات او الفاظ دی چه کوم وخت متکلم نه غواړی مخاطب په محض نوم یاد کړی، نو په دغه کلماتو او عباراتو یې یادوی او ځان ته یې پام کوی. خطابی القاب په هر قوم او ملت او هری ژبی کښی لږ او ډیر فرقونه لری چه که سړی ژور او عمیق نظر ورته وکړی نو د قوم په نفسیاتو او ثقافت دلالت کوی او د قومی روح ورځخه معلومیږی.

مثلاً په پښتو کښی خطابی القاب د نرو د پاره، ورور کاکا، لالا، ماما، بابا، ښاغلی او داسی نور دی. او د ښځو د پاره، خور، خورکۍ، ببو، ترور، ادې، میرمن او داسی نور ــ دا کلمی کله یوازی او کله د نامه سره د احترام د پاره ذکر کیږی.

یوه نکته چه دلته باید ذکر شی، هغه داده چه د پښتو په ادبی اسلوب کښی کوم وخت چه خطابی القاب د نامه سره یو ځای راوړل کیږی، نو د نامه پسی راځی. لکه احمد روکی، محمود کاکا، احمدشاه بابا بازرغونه، ا زنا ملاله میرمن او داسی نور ...

نو په دغه حساب سره لکه د «خادم آغا» غوندې «خادم ښاغلی» هم د پښتو د خپل ادب په اسلوب وروسته تر نامه باید ښاغلی راوړی شی. او د میرمن لقب هم لکه «رحیمه ببو» پشان «سالمه میرمن» پس له نامه د میرمن لقب ضمیمه کړی شی.

داچه تر اوسه مونږ ښاغلی او میرمن د نامه څخه مخ کښې لیکو یقین لرم چه د پاړسی تاثیر به وی په پښتو باندی نو که همدغسی بی پامی مو کوله ، نو لږه ز ما پس به پښتوخپل ادبی اسلوب له لاسه ور کړی او کښو له اواروړه شی به ترې جوړشی . اودا ګـنـاه بـه د لیکوالو وی .

قوم خو په اساسی صورت سره ژ به پهزر ګو نو کالووساتله مګر بی فکره یاضعیف النفس لیکوال به یی په لږه مـوده کښې مرداره کاند ی . ځکه چه دوی د پردیء ژ بـی په سیلاب کښې داسی رغړی لکه خسنی په خوړ کښې !

وګوری زمونږ په ملی ژ به « پښتو » کښې څو مره مزایا پراته دی، مونږ عام خطابی اواعزازی لقب د نر د پاره «ښاغلی » او ښځی د پاره «میرمن» لرو ښـاغلی دستوده فاضل، شریف اوساهو په معنی دی . اومیرمن د خـاوند په مقابله کښې دصاحبی وا کداری او اختیار منـی په معنی ده .

نومعلومه شوه چه د پښتنو په ثقافت کښې فضل ، کمال اخلاق او مساوات مدنظر دی ، نوځکه پردغه اساساتوژ به او ادبیات اتکاء لری . سړی ته خاوند او ښځی ته میرمـن ویل، په کامل حقوقی اومعاشرتی مساوات دلالت کوی . او نارینه ته په ښاغلی سره خطاب کول د لالت کوی چه اخلاق اوشرافت د پښتنو په تحت الشعور باند ی پوره حاکمیت لری .

دایوه نکته دلته بلههم بایدذکر کړ و هغـه داده چه نارینه تهدښاغلی دلام پهزور اوښځی تهښاغلی دلام پهزیر ویل هـیـڅ آ د بـی عیـب نه لـری . نود فضل ، کمال

او آدب داظهار دپاره «رحیمه ښاغلی» ذکر کول حسن لري، نه عیب! دا چه ښاغلی دې ضرور دناریته د پاره اختصاصي لقب وي، او مؤنثه صیغه دې یې متروکه شي او میرمن دې دپیغلې په مقابل کښېږدوا ده شوی ښځې لقب وي داهم دپاڼه سي برکات دی. که نه نو، ښاغلی په تذکیر او تانیث سره دنراو ښځې دپاره ادبي، او میرمن دښځې دپاره داحترام لغت دی، میړه لري او که نه!

داهغه څه دی چه زما فکر ته راځي په دی باب کښې باید د نورو هغو پښتو پوهانو نظریه واخستې شي چه دسوچه پښتو په محیط کښې لوی شوی وی. لکه څنګه چه ښاغلی دمعنوی حسن دپاره صفت دی او په مقابل کښې ئې بداخلاق دی دارنګه «آغا» دبادار او مالك په معنی دی او په مقابل کښې ئې مملوك او مریی دی. هغه په حریت او دا په غلامانه ذهنیت دلالت کوی.

کوم شخص چه پخپله اصل اوساهو وی ولی بل سړی دځان بادار کاندی؟!

زمونږ دکابل وړوکي پلارته «آغاجان» وائي که ددی پرځای ورته میندی «باباجان» په خوله ورکړی څومره په ښه وی!

✲✲✲

# شنه‌غو

په يو غريبانه کور کښې ، يو مور و پلار پنځه تنه اولاد و نه لرل . دا کور غريب ؤ ، مګر له شرافته خالي نه ؤ .

قدرت خپل کـارونه کوی . ددی کور پلار مړ شو ، او په کور کښې يوه کونډه مور د پنځه تنه اولادونو سره په ډير سپېرو خاورو پاتې شوه .

مورغريبه چه د يو لپه اولادسره بې ګـټندويه او سرپرسته پاتې وه ، حيرانه وه چه څنګه خپل څلور تنه واړه زامن او يوه لورچه سره‌جاله وه ، وساتی !

دې وړو به ولږې تيرولې . مګر د ارثی مناعت له کبله به‌د خيرات په شپه مسجد ، او ډوډۍ په وخت کښې د چا کورته نه تلل . د بيچاره ؤچاره ګرخدای دی ، دې کورچه نورهيڅ نه‌درلودل ، يوه‌شنه غوايې درلوده ، داغوا به لالـنګه وه‌چه بلار بيده به ، اوګويانه به‌وچيده ! خدای پاك دشنې غوا په‌شودو کښې دومره برکت ايښې ؤ ، چه په وخت به‌ئې له‌يو پاوه زيات کوچ کول !

په‌دغه وخت کښې که‌څه‌هم ارزانې وه ، اودرې پاو ه غوړی دروپۍ خرڅيدل . مګر په‌هم‌دغه‌تناسب نورشيونه هم ارزان وو .

شنه‌غوا ددی کوردروزۍ او نفقې وسيله‌خدای پيدا کړې‌وه . دکاله کوچنيانو به يې شودې اومستې خوړی اودغوړو په‌خرڅولو به ئې نور احتياجات پوره کيدل اوغريبانه ژوند به‌ئې کاوه !

د کاله وړو به شنه غوا ډيره ښه ساتله چا به جلب نيولی په شنو غاړو ګرځوله ، اوچا به ورته ښو کښې وابه کول اوچا به ئې په کور کښې خدمت کاوه .

په اخترونو کښې به د شنې غوا له بر کته کله کوم کالی همچا واغوست . په دغه شان شپې ورځې تيريدې . آخر يوه ورځ شنه غوا ناجوړه شوه ، ججوره ئې وکړه ، د کاله مو را واولادونه ډيرخپه وو . غوا ته ئې چه هر څه وا ښه اوليتۍ اونور څه راوړل ، غوا خوراك نه كاوه اوساعت په ساعت ئې مرض زياتيدو ، اودساه ايستلو خرهار به ئې په زوره کيدو .

دوه ورځې تيرې شوې ، غوا خوراك نه كاوه ، اود كاله افرادهم ډيرخپه وو په دريمه ورځ غوا پښې وغځولې ، اوسر ئې په ځمكه كښيښود .

دغوا دسترګو نه دمرض له شدته اودكونډې مو را و ينځو اولادو نو له سترګو څخه له خپګانه او ښكې رواني وې .

دغوا تاندی بچی هم لکه چه پوهيدو ، اوتراوتر به ئې مور ته کتله ، ترپسکې اورمباړی به ئې وهلې !

په آخره کښې چه دغوا سترګې برندې راووتې اوساه يې چوره بنده شوه اونوره نومرداريدهٔ ديتيما نو مور يو همسايه ته غږ کړ اوهغه راغی الله اكبر ئې کړ او دشنې غوا په مرۍ ئې چوړ کې رابنکله . په دې وخت کښې دکونډې مور ينځو آنو يتيمانو داسې سورې وهلې . لکه دپلار جنازه ئې چه پورته کيده ! خلك وائي : بې ژبې حيوانات نه پوهيږی . مګر زما ياددی چه دغوا دبچی په تورو تورو

ستر ګو کښې غټې غټې او ښکې ګرځيدی اوښکاره معلو ميدو چه ژاړی ! ګوالې مور چه خپلې ستر ګې وچولې ، نو وئې ويل ! «لو يه څښتنه ، نه زړه لری او نه ئې په چا سپړی ، زه به داسره جا له څه کړم ؟» اوسوړ او ليلې يې وايست ! دشنې غوا غوښه ټې ټې ټې او په کورونو دخيرات په صورت وويشل شوه . دشپې چه پنځه تنه اولادونه دمور خوا ته راغونډ شول او مور ئې مړی ؤ ورته راوړه ، نو منځنی زوی يې غږ کړ :

ادی ، داڅه شی دی ؟

مور ئې وويل : زويه ښورو ا اوغوښه ده !

هلك : زمونږ دشنې غوا غوښه ده ؟

مور : هو ، زويه ، نورنو څه !

هلك : ادې ، زه خو ئې نه خورم !

مور : ولې زويه ، څه کېږه مه ، ستاسو دسر صد قه اوستاسو دپلار خيرات دې وی !

زوی : نه ادی جانې ، والله که مې تير ه شی !

په دې کښې پنځه واړو کوچنيانو لاس ونيو !

اوس نو دشنې غوا په ماتم کښې يو ې مور او پنځو تنو بې پلاره اطفالو ترهغه وخته وژړل چه خوئې سرو نه په ځمکه کښېښودل اوويده شول ! هو ، خدای خپل کارونه کوی او دهيچا پروانه لری !!!

پس له څلو يښت کالو څخه زه اوس په بعيد ولو ازموسره پوهيږم ، چه ځينې انسانې جوامع ولې غوا ته مور وايي ! اوچه هر وخت دغه تړيجيلې راپه يادوم ژاړم !

✲✲✲✲

# دګردیز جغرافیه

سپین‌غر د تاریخي افغانستان منځ او مهم غردی چه دسپین غره برسر کابل او لوګر ته راغلی دی . دلته سم شمال ته د (لته بند) سلسله تللې‌ده چه دکابل سیند ته یې لیاره ورکړې کونړته لګیدلی ده ، اوجنوب ته ورنه یوه بله څانګه بیله شوی برابره نمرپریواته ته تللی ده اوغزنی ته ئې سررسیدلی دی . دادتیری غردی چه ګردیز او لوګر بیلوی ، اوس داسی یوخط فرض کړه چه دتیرا اوکوهاټ ترمنځ آن تر اباسینده رسیدلی دی ، او مخ په قبله چه راغلی دی نو دلوګر د خاوری سره یو ښاخ ئې جنوب ته مائل تریوه ځایه تللی بیا برابر قبلی ته سم‌شوی غزنی او دغور غرونو ته رسیدلی دی . نوداخط چه‌ما دروښوددی خط جنوب ته له‌غزنی ترهغه ځایه چه‌دسپین غره‌قبله ئیز سردوه ښاخه کیږی یوئی شمال او بل ئی جنوب‌ته ځی ، دغلته یوه‌دره غوندې ده چه تقریبا شرقا اوغربا پرته ده دغی دری‌ته «ګردیز» وائی .

دګردیز قبله‌ئیزسرزرمله اوماتیځ سرته ئی «میرزکه» ده . د میرزکی دویش او سرحد سره او به ویشل کیږی د «سید کرم» نه‌لږ شرق ته طبیعی ارتفاع‌ده له‌دغه‌ارتفاع نه‌څه او به دسپین‌غره په لمنه لمنه کښې‌ښکته ځی ؛ نوری او به هم ورسره یوځای کیږی دکورمی رودور نه جوړیږی . نمرخا تـه ځی اباسیندته ځان‌رسوی ، اوڅه نوری‌او به د ګردیز په دره کښې سمی قبلی ته مخه کوی ، په زرمله

باندې تېرېږي دمکورولاړو او بوته ورتوئېږي. دقرائنو اوروایاتو څخه معلومېږي چه دغه دره دمحمود غزنوي او دغوریانو پښتنو دهند اوافغانستان دتګ راتګ لیاره وه. په مېرزکه کښې دسلطان دکاریز په نامه کاریزونه شته دغلته له(سلطان) څخه محمود او شهاب‌الدین غوري دواړه مراد یدی شي.

دمیرزکې نه ښکته دسپین‌غره په لمنو کښې ځاځي پراته دي آن تر، کورمې پورې. دځاځو جنوب ته علی الترتیب منګل، ځدران، وزیر، کاکړ او اڅکزي پراته دي تر کوټې او بلوچستانه.

دغه ټول قومونه چه یکښې دي دا، دلوړو غرو سلسله ده چه شمالاً اوجنوباً تللې ده. دغې ته کوه سلیمان یا د «کسی‌غر» وائي. خلاصه دا چه ګردیز مهم مرکز او له کابله ډېر پورته اویخ دی.

ګردیز په ارتفاع کښې له غزني، مکور، کټواز او کلات سره برابر معلومېږي، اوداځمکې له کابله څودرجې پورته اوچتې دي، سړی چه له کابله دګردیز یا غزني خواته حرکت وکړي، نوور معلومېږي چه زه مخ په لوړه روان یم. دا لوړوالي تر هغه حس کېږي چه د تیري په کنډو یادشش ګاو په شاګې ور واړوي. په همدغه لحاظ ددغه سطحې هوا له کابل نه یخه او سړه ده. ګردیز یو بل خصوصیت هم لري چه همیشه یکښې شمال لګېږي دغه شمال اغلباً دزرملې خواته یعني قبله ئیز پلو ته چلېږي ځکه دګردیز هوا نسبتاً لاسخته او ترخه ده، اوښایي چه ددغه لوړوالي او یخوالي به سبب وي چه په دغه لوړه سطحه کښې ونې او باغونه لږ دي

د توتوونی بیخی نه لیدل کیږی. هر څه چه دی ځای پر ځای
د کاریزو دویالو پرغاړو دولو ، سنځلو ، او ځینی ځایو
کښې د زردالو باغو نه نظر ته راځی . په غزنی او مګور
او لږ لږ په ګردیز کښې د انګورو باغونه شته مګر څومره
چه زه معلومات لرم انګور ئې په عین پخوالی کښې
تر یوه والی لری ، او دا هم ښائی چه د یخنۍ سبب وی .
خربوزی او هندوانې په دغه مناطقو کښې ډیری کیږی مګر
د «ده سبز» او مزار د خټکو پشان خوږی نه وی ، البته له
خټکو څخه یی هندوانې ښې دی . بوشی چه په دغه ټولوړه
او مرتفعه سطحه کښې مشترک دی هغه دادی چه د خدای
دشتی او ځمکی وچی او بی اوبو لیدل کیږی . غنم په دی
ځمکه کښې خورا ښه او شولی او جوار ، باقلی ، مشنګ
او نوري غلې هم پکښې لږ و ډیری کیږی . دا ئی چه دا ځمکه
د غزنیانو او غوریانو په عصر کښې ډیره ودانه او حاصل خیزه
وه اوس هم د زرو کالو پخوا وران شوو بندونو او کاریزونو
ښې او علائیم ښکاری .

په غزنی کښې بوشی چه تر ټولو ډیر سترګو ته راځی هغه
هدیری دی او دا دلالت کوی په یو پخوانی لوی او قوی
مدنیت باندی .

کوم چه خدای په دغه ځمکه فضل او مرحمت کړی دی هغه
قوی صحتونه ، تندرست بدنونه ، د صورت ښکلا او جمال دی او
د معنی په لحاظ په دغه خلکو کښې اخلاقی استعدادونه او
فضائل ، سخا شجاعت د قول او عهد ایفاء ، عزت او پښتنولی
ده . ښځی په هیڅ ځای کښې د بوقر و په بد مرض نه دی
اخته شوی او غیر اسلامی ستر هم رواج نه دی مېندلی .

البته د پښتنولۍ پر اساس چه ښځې د نامحرم سړي په مقابل
کښې، پلو نیسي. ښځې د خپلو نارینه وو سره سم کارو ـه
کوي، او خپل مخصوص افغاني لباس چه په ذوقي صورت
او نفاست تیار شي نو خورا ښکلي او قشنګ هم دي، اغوندي.
دغلته مالداري لکه میږې، وزې او ښان او غوایان او محصولات
یې لکه غوړي، شودې، مستې، کورت، وړۍ، وژغنې،
نیمڅې او داسې نور ډېر دي. خلاصه دا چه د افغانیت زور،
قوت تاریخ او روایات له همـد غه ځمکې څخه سو راغ
کېدلی شي.
دغلته د پښتنو دومره اقوام او قبائل پراته دي چه سړی
حیرت کوي. دغسې لوئې لوئې قبیلې او قومونه لیدل
کیږي او اوریدل کیږي چه سړي نه وي اوریدلي!
د غزني له وادي څخه چه تر کلاته پرته ده غرب ته یوه
سلسله غرونه لیدل کیږي دغه نو (تاریخي غور) دی چه اوس په
کښې زمونږ هزاره او کوچي ورونه ګډ وډ پراته دي.
غور چه د افغانستان منځ او تر ټولو لـوړه سطحه ده یـوه
څو که ئې پامیر اتو ته تللې ده، او هري خواته ورنه ځمکه
تدریجاً ښکته کیږي، او لوی لوی سیندونه ورنه هـري
خواته تللي دي. حقیقتاً چه افغانستان د ایشیا زړه دی.
زه د افغان لوی نسل زلمیانو او لیکوالو تـوجه دغـې
خواته معطوفول غواړم چه د ملیت او افغانیت په سترګه
دغه ځمکه و ګوري او ریسترچ یې کاندي. ولې دا خبره
د ډېر تأسف ده چه د بې سوادۍ ټول زور هم دغلته دی. او
کور، کور د ښمنیو او مرګونو د ژوند صحنه ډېره ترخه او
تنګه کړېده.

دګرديز نه دميرزکي پورې يعنې دغرب نه دشمال شرق ډډې ته په دغه دره کښې چه بيان يې مخکښې تېر شوی تقريباً ۱۳ کروه مسافه ده په دې دره کښې دګرديز نه لږ ښکته داحمدزو دره شروع کيږي. ددې درې په مخکښې يو خوړ راغلی دی چه دشرق نه دغرب خواته تللی دی. دا خوړ دکال په اکثرو مياشتو کښې وچ وي او بهه نه لري. مګر عجيب خاصيت لري، په لږه لږه فاصله کښې يوه يوه ژرنده او به ورنه ختلې دي. دا او به دچينو دي چه ځای ځای د(زاه) په څېر راوتلې دي.

داحمدزو روداباددې وائي چه پخوا پخوا دا ځمکه له ميرزکي ترګرديزه آباده وه. او آبادي ئې داسې وې چه په يو سر به ئې سپرلی په بام وخوت بل سر ته به تللی شو يعنې دومره ګڼ کورونه موجود او ښارؤ.

زمرباباه: ګرديز دهرات، کابل او پېښور غونډې يو بالاحصار لري چه ډېر قديمي او پخواني معلوميږي.

اوس په دې زړو ځايونو، نوې عسکري قشله آباده شويده. ددې بالاحصار نه لاندې چاپيره دزاړه ښار آثار اوس هم دفلاکت په حالت موجود دي بالاحصار يوه غونډۍ ده،

خو داسې معلوميږي چه دا غونډۍ خلکو جوړه کړيده طبيعي نه ده، ولې داچه دا عظيم الشانه غونډۍ چه بيا دپاسه ور باندې دپادشاه داوسيدو مقام جوړ شوی ؤ په څومره وخت کښې به څومره خلکو جوړه کړې وي، ډيره دحيرت خبره ده. مګر داسې دحيرت خبرې په افغانستان کښې ډيرې ليدل کيږي، لکه دکابل داسمائي غرديوال، دغزني حصار، دباميانو ابدات، او داسې نور، په هر صورت:

وائی چه ددی ښاراو حصار ابادوونکی پخوا پخوا یو شخص و چه (زمر بابا) یی بوئی ·

د ا شخص خلك خپل نیکه بولی · مگر له اسلامه ئی مخکښی کښی داسی وایی چه ( میرز که ) ئی دیوی لوی نوم ؤ ·

سید کرم : تقریباً یو کلی دی چه اوس هلته حکومت

اوسی اوخه کلی په دغه نامه مشهور شوی دی ، دا ځای داحمدزو ددری شرق ته پروت دی ·دغلته نژدی د یوپان په سر داور بلو لو ( آ تشکدی) علایم اوس هم شته ·خلك داځای څه نه څه متبرك بولی · هوښیار خلك وایی چه دا ځای دپخوانو آتش پرستانو داور بلو لو اوعبادت ځای ؤ او یوه خلك داهم وایی چه سید کرم : په اصل کښی (سو کهارام )ؤچه قبل الاسلام بودائی نوم معلو میږ ی · په میزر که کښې چه خزانه او پخوانۍ طلاو سکی راوتلی دی ،دهغی روایت دادی چه هلته بو دایی معبد ؤ دهغه وخت خلکو بهخپل نذرو نیازحتی چه بادشاهانو همدلته خپل نذرونه ورکول ، چه ورو سته هما غسی له ځمکی لا ندی پاتی شول اواوس دخو لـکو طلاکا نی له هغه ځایه راووتې ·

دمیا عمرصاحب زیارت :ـ دسید کرم نه مخامخ قبلی ته

دغره پهغاړه کښېدوه تنگی دی اودهر یوه په خوله کښی کلی او ودانی ده · کوزته ( دچغړك ) اوبرته (تساندغړك)

وایی ، دا دواړه د پښتنو نومونه دي: وچ او تا ند خو معلوم لغات دي، مګر غړك په اصل کښې (غاړك) دی چه غاړ که تری مراد ده. دا تنګی هم د غره غاړی ته واقع دی. یو یی او به نه لری هغه ته وچ غاړك او بل یی او به لری چه (لو ند غاړك) یی بولی. په لو ند غاړك کښې د میاعمر صاحب د زیارت په نامه یو زیارت موجود دی دا هماغه « میاعمر بی نفس » دی چه د پیښور په خمکنو کښې یی په نامه مشهوره زیارت ګاه او قبر وجود لری . مګر خلك وایی چه دا د غاړك زیارت خپله د میا عمر صاحب نه دی یا یی زوی او یا یی ورارہ دی چه د لته خښ شوی دی. د احمدزو په رو د کښې څو کلی د میاعمر صاحب اولاده پرته ده چه په میاګانو شهرت لری.

میا عمر صاحب په ټولو پښتنو کښې د غوث په حیث منلی دی . د ده د نا ستی ځای اوس هم په باجوړ کښې د ( پانګک کتې ) په نامه مشهور او د ټول باجوړ د جرګی او پریکړی ځای دی . د میا عمر صاحب یو زوی «محمدی صاحب زاده » په نامه

دپښتنو شعراؤ په جمله کښي مو نږ پيژ نو چه د کاظم خان شيدا معاصرؤ. اوده دخپل ديوان په مقدمه کښي ياد کړيدی او ويلی يی دی چه ماخپل ديوان دده په سفارش جمع او تدوين کړ .

شيخ احمد روحانی : دگر د يز سهيل ته په غرونو کښي په څه لږه مسافه يو بل زيارت دی چه د شيخ احمد روحانی په نامه شهرت لری . داهماغه شخص دی چه «شيخ محمديان » در ته خپل ځانونه منسوبوی او سيد يی بولی مگر زما عقيده داده چه (روحانی ، نوحانی ـ اولوانی ، يوشی دی. لوانی په پښتنو کښي يوه قبيله ده چه ځينی رجال او سړی يی دهند دپښتنو شاهانو لکه لوديان اوداسی نورو په دربارونو او جرنيلانو کښي موجود ؤ . او ځينی لوانيان اوس هم دکوچيانو اوتاجرانو په صورت دهند او افغانستان په منځ کښي تگ راتگ کوی .

(شيخ احمدصاحب ) ددغه قبيلی روحانی سړی دی چه ښايی دپښتنو دعروج په وخت کښي په هند کښي ؤ او بيا له مړينی مخکښي د لته را غلی او پاتی شوی دی .

سلطان شهاب الدين غوری : د غزنی په احاطه کښي د(ديهك )په کلی کښي خښ دی چه زيارت يی ښاغلی استاد

خلیلی ښکاره او تازه کړ. داشخص په پښتنو کښې ډیر لوی
سلطان دی چه دهند لویه ساحه یې له بنګاله تر تیب پوری
په یو اسلامی حکومت کښې داخله کړی وه اود اسلام د نشر
لوی خدمت باید ده ته منسوب شی .

✿✿✿✿

# ملي کالي

دلباس مسئله پهسرسري نظرسره، سړی ته معمولي شی معلومیږي، اوسړیدافکر کوي چهدجامو به داجتماعیاتو سره څه دخل نهوي. مګرچهسړي غور وکړي نو ثابتیږي چه کالي پهاجتماعي مسائلو کښې خوراعمیق تاثیرلري.

دملي کالوڅخه مراد، دیوملت خپل مخصوص اغوستن دی: هرقوم اوهرملت ځانته اوبیلبیل لباس لري. دهر ملت دخپلو کالو پهتعین کښې دمملکت آبوهوا، اجتماعي اواخلاقي شرایط، عنعنات اوتاریخ دخل لري.

اجتماعي روشونه لهدوهعللوڅخه حاصلیږي یاداوي چهدعصر اوزمان تجربه پخپله یورجحان تینګکاندي او پهټولو افرادو کښې همرنګي قبوله کړي پاتهشي. یادا چهدیوفرد یا څوکسو رسوح خلک دینه اړکاندي چه یورجحان قبول کړي، پهاول صورت کښې سړی اکثرآدحق اوپهدویم کښې دباطل رنګونه مینهلي شي.

پهدیموکراسي شرایطو کښې چهدرد او قبول، فعل و انفعال، مبارزې اومناظرې پهډول، کوم رجحان قبلیږي هغه هم طبیعي او دعصر د مسلماتو په قسم کښې شمیرل کیږي. مګرکوم روش چه بې ددیموکراسۍ لهصورته په

خلکو قبلول شوی وی، هغه اکثره دخلکو او عمومیت په ګډه نه تعامیږی.

مثلاً: دهندوستان غربت، ګرمه آب وهوا، فلسفی او تصوفی روح دډیری سادګی او بساطت تقاضا کوی، په دغه اساس هندوستان د«ملی کالو» په مسئله کښی په کمیس او لنګک، یا په پوړنی، کمیس او لنګک کفایت وکړ.

هرکله چه په هندوستان کښی دیموکراسی فعلاً لیت د نیشنلزم او وطنیت پراساس داحزابو په صورت بروز وکړ، نو سیاسیونو او ګډو انانو هم دخا متاپه خولی، چوټی یا لنګک، کمیس، او واسکټ باندی قناعت وکړ. ځکه چه د دیموکراسی پر اساس له عمومی رججانه تیر بدل لکه چه خومره ګران کار دی، رواهم نه دی. په عربو کښی اوږده کمیسونه، چه دمخی خواته حلقی په صورت سراسر چاک وی، او پر سر باندی دسمال اچول چه پر اوږو راپروت وی، او ورمیږ ئی پټ کړی وی، چه دګوم سرتړونی په واسطه پـه سر کـلـک وتړل شی چه بادیی یو نه سی، دغه رنګه، لنګک یا یـو لا پر تو ګک غوره کول، دعربستان دبی پناه لمر او ګرمی ځ، او دخلکو دفقر او سادګی ځ او عربی حمیت په واسطه منل شوی دی.

اروپائی او مغربی ممالک چه اکثره یخ او ساړه ملکونه دی. دیخو اوسړو ملکو نوو ګری عموماً سخت سره او

فعال وی، نو دمغرب دخلکو لباس بایدچسپ، تو داود یخنی دمدافعی دپاره تیار شوی وی، نو ځکه دپخوا څخه دمغربی خلکو لباس وړ ین، او په لنډو جاکټ، کوتنه، او لمر نیوونکی خولی مشتمل ؤ.

کوم وحت چه مدنیت راغی، علم، فن او صنعت ترقی وکړه، پخوانی اکثره قیودات خلکو وغورزول. دخلکو ذوق او جمال پرستی بروز وکړ. نو ټولو قومونو په خپل هماغه قدیم اسلوب کښی تجددوکړ، او نوی رنګ ئی ورکړ.

د اروپایانو کالی په کوټ، پتلون، نیکر، شاپو، هیټ، بنیان، کف، کالر، نکټائی، بوټ، جرابو، اودکور اود بیرون، اودشپی اوورځی په لباس سره دنورو یوعالم تزئیناتو بدل شول. په لباس کښی داروپایانو دغه رنګ تبدیل او تغیر بیځایه نه ؤ، ځکه چه پنځلس نیم سوه کاله پخوا اروپایانو په رنساس اودعلومو او ادبیاتو، د اداری او سیاست په تجدد لاس پوری کړ، لمړی ئی خپل ځانو نه په دنیا وی حساب سم کړه او بیاد نیا ته راووتل. په امریکا، افریقا، جزائرو او ایشیا کښی ئی لوی لوی فتوحات وکړل، او په دغه شان دد نیا په پنځه واړه برخو ددوی باداری او اقتدار قائم شو. ګویا دځمکی دمخ ټول سره او سپین، جواهر او معادن، خورا کونه او میوی دد وی وو.

دوی سره هغه قسم علمی او فنی قدرتونه وو چه د هیچا لاس پری نه بر کیدو، اودځمکی دمخ خلکو دوی ته په حیرت اوفوق العاده ګی کتل. په دنیا کښی ډیروقومونو چه ددوی دترقی بنیاد نشو پیژندلی، د د و ی ظاهری تقلیدونه ئی شروع کړل، او بیځایه د کوټ، پتلون، نکټائی، په زولنو کښی ګیر شول.

ځینی قومونه چه دشرق دبیدارۍ په دویمه نشاه کښې نیم یا پوره بیداره شول ، دوی دخپلو لباسونو طرز سره له تغیره وساته .

مثلاً اعرابو ، خپل اوږده کمیسونه په خرقو ، عباګانو دسر ، داوړۍ نه په بنایسته دستمالونو ؛ او سرتړونی په زرې چلتارونو بدل کړل .

هندیانو ، خپل لنګونه وونغځل ؛ او د کمیسونو دپاسه ئې صدرۍ یا کورتۍ واغوستې ؛ ښځو خپل معمولی پوړنی په زر زرې شالونو الیش کړل ، انجړ بنجرسرو نه ئې ونغځل او سترهٔ ئې چونګۍ کړل . څپلۍ ئې نوی کړی ؛ خو پرې یې نښودې . پاکستان خپلې بوټې ، بوټی خوله چه دپاسه وربا ندی پټکی تړی او اوږدی اوږدی چرخولکی شملې پرېږدی ، ترك نکړی ؛ او ورسره ئې کوټ او پتلون او سټك واخستل او ادارو ته روان شول . هو ، دغوټولو خلکو دوطن په پیدا وار او خپلو او بدلو شیانو اکتفاء وکړه .

مګر دا یوازی پټۍ سترګی افغان ؤ ، چه د ایران او ترکیې په پیروئۀ ئې بلاسنجشه دمغرب لباسی تقلید کاوه .

دوی بې څیړنی اوسنجشه پښو ته پتلون ، غاړې ته نکټائی تن ته کوټ واچول ، او شاپو او هیټ ئې په سر کړل .

ددغو شیانو سره کف کالر ، بوټ سوټ لازم وو . دغه ټول ئې قبول کړل چه نارینه ئې ولیدل ښځو هم څه په خپله خوښه ، او څه دبوالهوسو میړونو په غوښتنه ، لستونړی پریکړل دپرتوګ په ځای سیلدراجونو . رواج پیدا کړ .

اوس نولازمه وه چه ځوانانو سګرټونه هم خوله کښې

نیولی په لیاره روان وای ، شین لوګی ئی ایستلای .

اود پیغلو «پاره دسکو لونه لازم وو . چه اپسیرین شام پاریس ، سفیده ، رنګک ناخون . دسر رنګا رنګک ګلان اوشانه موی پکښی وای ، چه داهم وشول .

نو په داسی حال کښی لزو ما باید پیری وخریل شی سرونه لنلهشی . دنائلون جرابی دجګو چپلی بوټو نوسره په پښو کړی شی . اوکه دچا پنلهیء سپینی وی د بوسکی او وریښمینو بوقرو څخه ئی ښکاره هم کاندې .

چه دا ټول وشوو ، نو زمونږ ملی کمیس ، پرتوګ څادر ، پټکی ، خولیء ، پوړنی ، لنګیه ، کرتیه ، څپلی پر پښو دلشوه نوضمنا خامتا الچه پټو ، برکه ، کرك او دوطن نور پیداوار چه دکونلهو په څرخه ، دوطن دجولا په کلهیء ددهقان له پښی لاس ته راتللل هم بند شول ، او سقوط ئی وکړ ، اوداڅکه چه مغربی لباس خو دوطن له ټوکره نشو جوړیدای ، نومنفعت پرستو تاجرانو مغربی واردات ډیر کړل اوچه څوکسو له لاسه کیدل په خریدئی شروع وکړه او چه داکثریت لهلاسه نه کیدل نووئی غوښتل چه خپل تن دمغرب په زړو مستعمل شوواومښلو کالو پټ کاندی اوسیالی پری نړدی .

نوداؤ ، چه په زیات مقدار زنانه او مردانه مستعمل کالی وطن ته واردشول ، اوس نورائحیء چه وګورو چه دکابل ، کندهار ، هرات ، بلخ ، فراه او جلال آباد ښارونه په څه شی ډك دی ؟مغربی فرسوده کالی ، اود زنانه فیشن عبث سامان! هرکله چه دمغربی فیشن سره مغربی فرنیچر ، اومغربی وضع ور لازم ؤ ؛ نو داهم راغله او

خلکو شروع وکړه چه فقط دکناراب سامان په پنځلس، شل زره روپو وارد کاندی.ښه نو، ددغسی ښه کور په مخکښی جدیدترین مودل تیز رفتار موټرونه په کار وو، دا هم وارد شول . او یو کثیر مقدار پیسی ددی محصور ملك دپټرولو دمصرف دپاره تخصیص شوی .

نو په نتیجه کښی ځینی کسان آسمان ته وختل او اکثریت لـه پـخـوا بـتـر شـو ل ځـکـه چـه ، کـبـچر ، او بش الاچی وال ، نداف ، جولا ، اوګاډی وان او وړوصنعت کار ، سقوط وکړ ، او په نتیجه کښی و ر ته ا قتصا د ی مشکلات پیدا شول .

اوس خبره دی ځای ته رسیدلی ده چه سړی نشی ویلی چه «افغانی لباس» څه شی دی ؟

افغانی قبایل او ایالات مختلف اغوستن لری ، نورستان او چترال خپلی خولی په سر کوی ، اود جنوبی دخلکو غوندی جاکټونه خپله جوړوی ـ اغوندیی اوپای پیچی پری تاووی .

چـه شـی ئـی دپـښو کـولـو شـی دی ، پـه عـام نـنـګـر هـار او پـښـتـو نـسـتـا ن کـښـی خـو لـه یي پټکی ، کمیس ، پرتوګ ، څادر اوخپلی لباس دی .

دغزنی پوستین ، دکندهار اوفراه نه تر هرا ته توسی یوځا نته شی دی . په شمالی صفحاتو ، میمنه ، فراه قطغن او بدخشان کښی چپن څه لږ علیحده صورت لری . هزاره جات

کورتۍ آغوندې او پای پیچی تاووی .

د کابل خلك که‌قره‌قلی خولۍ ترې لری کړې ، کوم علیحده طرزنه لری .خو که په‌عمومی اوپراخ نظر وکتل شی دلویی پښتونخوا «ملی لباس » و طـنـی خـو لۍ ، کمیس پرتوګك ، څادر یا کورتۍ ، څپلۍ ، یا بوټ د نرو ، او پوړنی ، کمیس چه‌ترزنګنو لنډ نه‌وی، پرتوګك بوټو نه دښځو جامه تشکیلوی . د کمیس لستوڼی پـوره وی . او ګریوان یی تنۍ ۶ لری، او په عمومی صورت سره کمیسو نه کمرچین وی. پښتنی ښځی ویښته نه‌لنډوی او اکثراً یـی اوبی ،داوبدلوطریقی دهرځای بېلی دی .نارینه په‌آس او وسلـه افـتخـار کـوی او ښځـی پـه‌ګـا ڼـه کښې هـم اختـلاف شتـه‌پـه مـنـاطـقو اړه‌لـری مـګـر چارګل ، غوږوالی ، غاړکۍ ، پاولۍ ،چـکـڼ‌دوزی ،په پـه‌لاسو نه کښې بنګړی یاونبی اوګوتی عمومیت لـری .

ددې‌نه‌چه‌زیات‌شی نوافراط یی بولی . پښتانه‌نارینه‌وړېښمینه او رنـګینه جامه‌نه‌خوښوی .

د یوه ملت د کالو یو والی معنوی یو والی ته منجر کېږی او پر خلاف : تشتت یی د افکار و تشتت ته . د غـه دلا یـل مـو جـو د د ی چـه « من تشبه بقوم فهو منهم » لوی‌دلیل ګڼل شوی‌دی.دپښتنو دهوښیاروخلکو څخه‌هیله کېږی چه‌دا‌ټولی خبری وسنجوی او بیا خپله لار تعین کاندی !

کابل : ۱۳۳۰

دماشومانو دپاره:

# اختراعات څنګه وشول

په دې بيان کښې غواړو چه تاسو ته دغې خبرې جواب ووايو چه تاسو يې اکثره يو تر بله پوښتئ، او چا تاسو ته پوره جواب نه دی درکړی! ښه نو، دا خبره څه ده چه ټول عمر پکښې ستاسو داده، او هيچا ستاسو دا سودا نده استلې؟ ـ غوږ کېږدئ، مونږ يې درته وايو: مونږ او تاسو ټول عمر په دې پکښې اريان يو، چه دا څه سبب دی چه دا خارجيان دومره هوښياران دي چه داسې ښه ښه څيزونه جوړوي؛ او رنګا رنګ حکمتونه راوباسي؛ او مونږ او تاسو يو هم نه شو جوړ ولای!

جوړول يو لا څه کوئ، ور باندې پوهېږو هم نه! ـ زمونږ هر سړی چه په موټر يا ـ اورګاډی کښې سپرېږي؛ يا هوايي جهاز ګوري؛ يا په آبګوټ کښې کښېني؛ يا د ګنډلو او ليکلو ماشين وينې؛ يا ـ د تيلفون، راديو او تلګراف خبرې اوري؛ يا ئې داسې نورې نورې د حکمت خبرې غوږونو ته رسېږي؛ نو يو وار خو ضرور اريانېږي چه دا څنګه څيزونه دي؛ دا به چا جوړ کړي وي؛ او څنګه به يې جوړ کړي وي؛ او دوی يې ولې جوړ ولای شي؛ او مونږ يې نه شو جوړولای ؟!!

دا سوداګانې زمونږ او ستاسو د هر يوه زړه ته راغلې دي؛ په اوله کښې خو يو د بل نه پوښتنې هم وکړو؛ خو چه پوره جواب وانورو، نو په آخره کښې غلي شو؛ او سودا موو نه وځي!

لوی سړی خولا پرېږده ؛ واړه هلکان او نجونې هم چه دا عجیبه شیونه وګوری ؛ او- یاداسې د اریانتیا خبرې واوری ؛ نو پښتنې کوی ؛ اودا پوښتنې اکثره د میندو ځخه وی. دوی وایی :

«ادې جانې ، داشیونه څوك جوړوی ؟!» نو میندې وایی : «بچیه خارجیان یې جوړوی !». مګر په دې جواب باندې دوړو زړه کله صبر یږی ، دستی ورپسې داپوښتنه کوی ، چه :

«ادې ، مونږ یې نو ولې نه شو جولای ؟! !» په دی وخت کښې نو که مور کم عقله وی ، او د اطفالو په پالنه نه پوهېږی نو د هغې جواب داوی :

«پرېږده فلانیه ! څومره ډېرې پوښتنې کوې ، کـا ږه دی کړو !» او که مور لږه هوښیاره وی ، او پوهېږی چه د ماشومانو داپوښتنې ډېرښه کاردی ، اپه هره خبره باید دوی ته یو مطلب وښودل شی !

نودا مور ، ورته دا قصه راواخلی ، چه :

«زویه ، خارجیانو داټول حکمتونه د مسلمانانو څخه زده کړی دی ؛ په مسلمانانو کښې پخوا پخوا یو سړی ؤ ، چه لقمان حکیم ئی باله ، هغه داټول شیونه لیکلی دی ؛ او هغه کتابونه ددولاس ته ورغلی دی او دوی له هغو کتابونه څخه اخستی دی.»

ځینې میندې لا داقصه هم کوی ، چه :

«په یوځای کښې یو لوی دریاب دی ؛ ددې دریاب په مینځ کښې یو برج ولاړ دی ؛ د برج نه هرې خواته او به ډېری تېزی سره بهېږی ؛ ددې برج په دېوالونو د لقمان حکیم صاحب خبری لیکلی دی ؛ دې برج ته هیڅوك نه شی

ور تلای ؛ - خارجیان څه‌چل کوی ؟ دوی په کښتیه کښې سپاره شی ؛او کښتی ددې برج خواته را پر بېر دی ؛چه نژدې ورته راشی ؛ دوی سره داخښتلو اوړو غوندی یو نرم‌شی وی؛ هغه‌ی شی په‌دی دېوال ووهی ،او بېـرته یې راواخلی . په‌دیوال چه‌هر څه لیکلی وی ؛ هغه په دغـه نرم‌شی ولیکلی شی .دوی بیاهغه لولی ؛ او عقل ورنـه زده کوی ! »

داسی قصی به تاسو ټولو اوریدلی وی . وړوکی چه داخبری واوری ، نونور خونه پوهېږی ؛ وایـی رښتیا همدغسی ده . مګر بیایې هم په‌زړه کښې داخبره پاتې‌شی چه دا دریاب او دابرج به چېر ته وی ؟ کـاشکی چه دې برج ته خوسړی ورغلای وای ! -

ځینی له‌ دغه اطفالو څخه چه لږه زیاته پوهه لری ؛ چه لوی شی ، او کـتابونه ولولی ، نوهماغه دورکوټوالی خبری یـې په غوږکښې وی ؛ نوکـتابونه ور پسې لټوی . یا - داستاذانونه پوښتنی کوی . ولې سره ددی یې هم نه په‌کـتاب کښې سودا ووځی ؛ او نه ورته استاذ ان داسی څه ووایی چه زړه یې ورباندې اوبه وځښی! - په آخره کښې خودېده پام نه‌وی؛ مګردایـې په‌زړه کښې ټینـګه‌شی چه ددې ټولو خبرو سبب دادی‌چه«دخارجیانوعقل زیات دی . او زموږ کم دی ! » -

اوس زموږ داکشروخلکو په مغزوکښی همدغه‌خبره ناسته ده . او دې خبرې دځینو په مغزوکښې تردې حده ټینـګک ځای نیولی دی چه چاته په‌کښې دخبروکولو حق هم نه ورکوی .

خارجیان هم چه زمونږ په دې فکر پوه شویدی، هغوی زمونږ د کم عقلتوب د پاره یو بلا دلیلونه را ایستلي دي؛ او په کتابونو کښې یې لیکلي دي. که رښتیا مې پوښتې؛ نو زمونږ د کمبختۍ او ټیټوالي لوی سبب همدا دی چه مونږ خپل ځانونه ټیټ او کم عقل ګڼلي دي. - یو سړی چه ووایي چه زه د فلاني شخصه کم عقل یم؛ نو دی بیا د هغه سره د ځان د سمولو کوښښ نه کوي. نو چه سړی کوښښ نه کوي؛ نو که هوښیار وي هم کم عقل شي! - دغه خیال دی چه ننورځ یې د ټول مشرق زمین او خصوصاً زمونږ په دماغونو پرده اچولې ده، او د کاره یې غورځولي دي!

مګر په اصل کښې دا خبرې چوري غلطي دي. اصله خبره داده چه دا ټول کارونه چه شویدي یا کېږي - بنیادم یې کوي - په بنیادمانو کښې هم هر بنیادم نه؛ د استعداد خاوندان یې کوي! - د مشرق او مغرب؛ یا - د مسلمانانو او پرنګیانو په استعداد کښې دومره لوی فرق نشته چه دوی ګوندي په اصل کښې دغومره لوړ او پورته پیدا شویدي او مونږ دومره ټیټ او لاندي یو. که مونږ ټول د هغوی ټولو په مقابل کښې ځانونه وشمېرو، نو دا فرق اڅو شته دی نه! - هو، د سړو او افرادو په عقل او استعداد کښې چه په خپل مینځ کښې یې سره واخلو، تفاوت شته دی. په دی صورت کښې لکه په دوی کښې چه هوښیار او کم عقل شته دي؛ هغسې مونږ هم یو: - د افرادو او اشخاصو عقل او استعداد سره برابر او یو شان ندی. هر سړی او هر شخص ځانته استعداد لري. مثلاً: د یوه سړي په معمارۍ ښه فکر رسېږي؛ د بل په آهنګرۍ؛ د یو بل په ترکاڼۍ!-

یو سړی د دهقانۍ سره ښه تناسب لری ؛ بل د جولاګرۍ سره ؛ او یو بل د نقاشۍ سره !- همدا رنګه یو سړی ښه شاعر او ادیب کېدی شی ؛ بل سړی ښه سیاست دان کېدی شی او یو بل ښه حکیم او فلسفی کېدی شی !- مګر داهیڅکله نه شی کېدی چه یو سړی هم ښه عسکر ؛ هم ښه ادیب ؛ هم ښه سیاست دان ؛ او هم ښه فلسفی شی !-

په دې ځای کښې ستاسو په زړونو کښې ضرور داخبری تېر یږی چه ښه نو :

(۱) استعداد څه شی دی ؟

(۲) مونږ څنګه معلوم ولای شو چه کوم سړی د کوم شی استعداد لری ؟

(۳) هر کله چه زمونږ او د یورپ (مغرب زمین) د خلکو په استعداد کښې فرق نشته نو کسر په کوم ځای کښې دی ؟-

راځۍ داخبری بهٔزه تاسو ته ښې و سپړم ، غوږ کېږدئ .

اول دا وایم چه استعداد څه شی دی ؟ د مثال په ډول یوه دغنم دانه واخلئ ؛ که دې دانې ته مناسب تودوالی رطوبت خاوره ؛ هوا ، او رڼا ورسیږی ؛ نو دا دانه زرغونیږی پس له زرغونیدو که همدغه اسباب مهیا وی او مانع نه وی نو لویږی او ثمرې ته رسیږی .

نو دا دانه د شنه کیدو او لوئیدو استعداد لری ، او که خوساشی یا یې چینجی ووهی نو دا استعداد ضائع کیږی او بیا نه زرغونیږی !

دوهم - یوه ځمکه واخلئ ؛ چه که غنم پکښې وکرلی شی ، ښه کیږی ، او که جوار پکښې وکرلی شی نو نه کیږی

نو دا ځمکه د غنمو د شنه کېدو استعداد لري، او د جوارو نه لري.

دریم - په ډالمی ځمکه کښې غنم یوه لوېشت و نه کوي او په اوی بله ځمکه کښې نږدې گز یو نیم گز ته رسیږي نو دا د غنمو استعداد دی چه د یوې لوېشتې نه د یو نیم گز ورې لوئیږي مګر په هیڅ صورت د جوارو قدر نه کیږي ځکه چه دا استعداد نه لري.

په دغه شان سړه د هر شي د پاره بېل بېل استعدادونه دي. انسان هم دغسې. - یو طفل چه د مور نه وځیږي، دی د ځانه سره ډېر استعدادونه راوړي. یو د جوړتیا او تندرستی استعداد دی.

بل د عقل او پوهې استعداد دی، دا دواړه بیا په خپل مینځ کښې ویش او تقسیمونه لري. مثلاً د صحت په خوا کښې یو طفل د لوړېدو استعداد ډېر لري، هغه به لوړیږي؛ او دنګ سړی آری جوړیږي. بل د چاغېدو استعداد ډېر لري دی به چاغیږي.

یو د پهلوان کېدو استعداد لري هغه پهلوان کیږي بل بیا داسې وي چه لوړ، چاغ، او پهلوان جوړیدی شي هغه هم غسې کیږي! - د عقل په خوا کښې هم لکه چه ومو ویل په اصل کښې څوک شاعر، څوک ادیب، څوک صنعت کار څوک به حاکم او مدیر، څوک د فکر او لوړو نظریاتو خاوند وي. نو چه موانع ورپېښ نه شي او شرائط موجود شي نو همدغه کمال ته رسیږي. مولانای روم دغه استعدادونو ته اشارت کړی ده چه وایي ئې دی:

«هر کسی را بهر کاری ساختند !»

مونږ پخوا ویلی دی چه هر استعداد د شرائط لری که لادغه میسر شی ، نو استعداد ظهور کوی او خپل کمال ته رسیږی . او که میسر نشول ، نو استعداد ضائع کیږی او که په شرائطو کښی نقص راغی ، نو په کمال کښی نقص پیښیږی :

فرض کړو یو طفل درو غتیا ښه استعداد لری ، نو که دهٔ ته ښه غذا ورنکړی شی ، ورزش ته پری نښودل شی د مرضونو جلو گیری ورنه ونه شی ؛ او ښه ونه روزل شی نو په آخره کښی ضعیف ، ناتوانه او کمزوری لوئیږی .

دارنګه یو کوچنی چه د نطاقی ، او فصاحت ښه استعداد لری که دهٔ ته دخبرو کولو او بیان موقعه ورنکړی شی نو گوز موز شی یا یی ژبه کړ کیچو پاتی شی .

همداسی یو کوچنی چه دعلم او ادب ښه استعداد لری ، که دی مکتب ته وانه چول شی ؛ او یا ـ ښه تعلیم په لاس ور نشی نو نالوستی او کم فکره پاتی شی !

همدغه شان یو هلك چه د صنعت او جوړولو ښه استعداد لری ؛ نو که دهٔ ته د ښه تعلیم او په یوه ښه کارخانه کښی دمطالعی او مشق کولو وخت په لاس ور نشی ؛ نو په پای کښی دهٔ او دیو بی استعداده سړی په منځکښی هیڅ فرق نه شی کاوه !

د پورته مثالو نو څخه به تاسو د «استعداد» معنی پیژندلی وی او که نه موږ ی پیژندلی ؛ نو دغه دی زه یی دو ته وایم «استعداد هغه پټ قوت دی چه د وجود او کمال شرطونه ئی تکمیل شی ؛ نو بروز کوی او کمال ته رسیږی .»

دویمه خبره داده چه څنګه به معلمو موږ چه کوم سړی د کوم شی استعداد لری ؟ ددې جواب دادی چه هر استعداد پخپله خپلې علامې ښکاره کوی ؛ که څوك یې د نه پېژنی او زمینه ورته تهیه نه کاندی نو بیرته مضمحل کیږی .

اوورك کیږی . که تاسو پخپله خپلو کوچنیانو اووړ و ته ځیر شی ؛ او ددوی په طبیعی خواهشونو کښی ډیره مداخله و نکړی ؛ نودر معلومه به شی چه هر یو طفل یوی خوا ته زیات میلان ښکاره کوی . او د هر طفل میلانات د بل نه جداوی . او همدغه د پټو استعدادو نو علامې دی . د استعداد د معلومولو وظیفه زیاته د پلار نکی ، استاذ او مکتب په غاړه ده .

دریم سوال داو چه هر کله زمونږ او د خارجیانو په اصلی استعداد کښی فرق نشته ، نو کسر په کوم ځای کښی دی ؟ - ددې جواب دادی چه تر ټولو مهم او ضروری شی چه ټولې ترقی د هغې پوری اړه لری ، هغه استعداد د معلومول او دهغه پالل دی .

ترقی دهماغه قومونو په نصیب کیږی چه هغوی استعداد معلومولی شی ؛ او پس له معلومولو او پیژندلو څخه یې روز لای او پالای شی ! زمونږ خبری په هوائی جهاز رادیو ، او دغسی نورو شیونو کښی دی .

داشیو نه داسی نه دی چه یا - یو سړی جوړ کړی دی او یا په یو زل جوړ شویدی ، عمرونه په دی شیونو کښی فکر شویدی او ډیرو کسانو پکښی کار کړیدی ؛ یو یې یو شی ، او بل یې بل شی جوړ کړیدی . په او له کښې یې ډیر نقصانونه لرل . دا نقصانونه ورنه وروورو اصلاح شوی دی ، او په

آخره کښې دغه جهاز یا ـ رادیو جوړه شوېده چه مونږ یې وینو .

په مونږ او تاسو کښې هم دغه استعداد شته دی چه دا شیونه جوړ کړو یا ددې په څېر اختراعات وکړو . په دې شرط که مونږ د اشخاصو استعدادونه وپېژنو او دغه استعدادونه وروزو او مخه ورکړو . په مونږ او تاسو کښې هم افلاطون اوارسطو ، بېکن اوډیکارټ پیدا شوی دی مګر د هغو استعدادونو مخه نه ده موندلې اود خاورو سره خاورې شویدی !

دغه سړی چه جوا لی ګری کوی، یا دغه سړی چه په غرونو کښې رمه پیایی ؛ یا ـ دغه زلمی چه بې له یوه کاره یوخوا او بل خوا ګرزی ، یا ـ دغه بې مورو بې پلاره ووړ کی چه د سوال لاس ستاوو زمامخې ته اوږدوی ـ څوک خبر دی چه دا دې لوی استعداد خاوندان ندی . او څوک ویلـی شی چه که دوی ته اساسی تعلیم او تربیت ورکړی شی نود ارسطو او ډیکارټ ځای ته به ونه رسېږی ؟! ـ

نورو ع چه خارجیان له مونږه پورته دی ؛ په عقل او استعداد کښې ندی . بلکه په همدغه دوه شیونو کښې له مونږه پورته دی ، چه هغه استعداد پېژندل اود هغه پالل او کمال ته رسول دی ! ☼

---

☼ نوټ : اوس نو که څوک د استعداد په باب او د اچه څنګه پېژندل کیدی شی او څنګه روزل کېدی شی ـ زیات معلومات غواړی نو د کتاب « نبوغ او عبقریت » ته دې مراجعه وکړی .　«خادم»

# دټولنې ذوق

هر شخص په یوه معلومه اندازه سره، ابریا ډېر، دذوق وجدان اوعقل څخه برخه لري. ولی عام وګړي چه ګډلی واخلي؛ یوقسم متوسط عقل، وجدان اوذوق لري، چه دټولنې عقل؛ دجامعې وجدان؛اوداجتماع ذوق وته ویل کېږي. ګټه او زیان؛ ښایست او بدرنګي؛ نیکي او بدي دغه متوسط عقل، وجدان اوذوق په واسطه سره پېژندل کېږي.

عام متوسط عقل:

عام متوسط عقل هغه قوت دی چه دوګړو دازمېښت او تجربو په سبب په دوی کښې پیدا کېږي، د همدغه قوت په ذریعه سوداو زیان پېژندل کېږي او دعاقل او لیونی په منځکښې حدفاصل شمېرل کېږي. دارنګه چه که داسې یوسړی پیداشی چه خپلې جامې څیرې کړي؛ یاخپل مال ته اور واچوی؛ یالههغه څخه چه عام وګړي نه وېرېږي بې سببه تر هه ښکاره کاندې؛ یا وغواړي چه خپل ځان بې باعثه ووژني؛ یاددې په شان دنوروداسې کارو مرتکب شی چه دعقلاؤ داکثریت درویې څخه برخلاف وی: عام متوسط عقل دی لېوني ګڼي؛ اودټولنې د قضایې قوت ته امر ورکوی چه دغسې سړی مقید کاندې او په خپلو مالونو کښې یې د تصرف څخه محروم کړي!